# سریزه

د ګران هېواد افغانستان جغرافیه کې د ژبو د ډېربښت سره سره د نظام لاندې د معلومې جغرافې لپاره د رسمي ژبو ټاکنه او پرمختګ ټول په ژبني چوپړ پوري ترلی دی همدارنګه ژبه چې د یو ملت هویت څرګندوي، په نړۍ کې ډېری هېوادونه چې یو ژبني ملت لري د اقتدار د بدلون چاري پري څرګندې اغیزې نه لري مګر داسي هېوادونه چې څو رسمي ژبي لري د اقتدار له اډانې سره سیده تړاو لري که په متوازن او په متناسب ډول د رسمي ژبو او ورسره د نورو فرعي ژبو خیال وساتل شي په موازي توګه د ژبي پرمختګ، د کلتور ساتنه، زده کړه ایز چوپړونه او همدا ډول په ټوله کې ټول چوپړونه په ښه توګه ترسره کیږي

د ټول هیواد وګړي او په ځانګړي توکه هغه ډېری وګړي چې مورنۍ ژبه یي رسمي ژبه هم ده په لوی لاس یی دفتري چارې دوهمي ژبي ته ورتیل وهل کیږي چې نه یوازي تناسب نه پلی کیږي بلکې پوهاوې هم سم نه ترسره کیږي همدا شان په دوهم اودریم لاس ژباړو کې اصل متن د بدلیدو ښکار کیږي چې د غوښتنې سره سمه توقع نه ترلاسه کیږي همدارنګه هیوادوال په دواړو رسمي ژبو د واک او حاکمیت اړتیا لري چې د غوښتني پر وخت تري ګټه پورته کړي، همداشان د ستوري اداره غواړي چې هیوادوالو ته د ژبو په برخه کې متوازن او متناسب چوپړونه وانړندي شي څرنګه چې ژبه مو ملي هویت دي ښایي د کار کولو حق پري خوندي شي .

په درنښت

اداره

# انساني کرامت

پوهیالی صلاح الدین "سالارزی"

**غورچڼ**

د اسلام په مبارک دین کې د انساني حقوقو تر ټولو مهم اصل او اساس انساني کرامت دی، د قرانکریم په اسرا سورت، اویایم آیت کې الله تعالی فرمایي: ( بې شکه د آدم بچیانو ته مو کرامت وبخښه ) دي حقیقت ته اشاره کوي. د انساني حقوقو اهمیت تر دي آندازې دی چې دوه سوه څلور اویا ځله د حق له ټکې او کابو یو سل پنځوس ځله د انسان، بشر او آدم له اساسی کلمو په قرآنکریم کی استفاده شوې ده.

د اسلام په مبارک دین کې د جنس او توکم، رنګ او نسل په څېر عوامل د هیڅ برلاسي عامل نه دی، بلکې د توکمیز توپیر پرته هغه معیار، چې انسان ته، یو ارزښت ورکوي، تقوا ده. دغه معیار د انسان له ذاتي کرامت سره ډېر نزدې ارتباط لری او د انساني حقوقو د آرمانونو پوره کیدا آسانوي او تضمینوي یې، ځکه په اصل کې تقوا یوه باطني او معنوي چاره ده او د سلطه غوښتنې او ناوړه استفادې لپاره عیني ځانګړنه نشی کیدلې، دوهم، تقوا د بلوا او بغاوت په مقابل کې او د انسان د ارزښت او کرامت حقیقي ساتونکې ده. د بشریت د تاریخ آرزونه ښی هر چرته شهوت، غوسه او تاوتریخوالی راپورته شوی او پر تقوا یی غلبه کړی ده، نو انساني آرزښت او کرامت چخنې شوی، جنګ او جنایت، وینی بهولو غلبه کړی ده. د کرامت اصل یو پېژندل شوی ټولنیز اصل دی. پېژندل او رعایت کول یې د یو انسان د بل انسان په وړاندې اسلامي او انساني مسوولیت دی، که په بشپړ ډول مراعت شي نو ټولنه د ثبات او هوساینې لور ته بیایي.

**سریزه**

که د حق موضوع ته د عمومیت له اړخه کتنه وکړو نو دا ترې په څرګنده جوتیږي چې حق یا حقوق د انساني ژوند بیلابیلو برخو ته شاملیږي او ډېری داسې حقونه او مسوولیتونه شته دی چې انسانان یې په ټولنه کې یو پر بل باندې لري او عملي کول یې د ټولنې د ټولو وګړو دنده ده. ځینې دا ډول حقونه ټولنیز حیثیت لري چې له ډلې یې د کرامت اصل یادولی شو چې هر انسان د کرامت او درناوي له اصل څخه برخمن دی. د کرامت حق او اصل د انسان لپاره یو داسې اصل دی چې نه یوازې د انسان لپاره بلکې په چاپیریال کې د شته ټولو حیواناتو او حتی نباتاتو لپاره هم د پلي کیدو وړ دی. یعنې د حیوان هم باید قدر او درناوی وشي، ورباندې رحم وشي. په دې هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا مبارک حدیث غوره دلیل دی (فاء ذا قتلتم فاحسنوا القتلته، و اذا ذبحتم فاحسنوا الذبح، ولیحد احدکم شفرته ولیرح ذبیحته)(مسلم،۱۹۵۵) ژباړه: که تاسو کله هم یو حیوان حلالوئ نو باید په ډېر رحم، نرمښت او ښې مسنونې طریقې سره یې ذبح کړئ. نو په همدې بنسټ ویلی شو چې د حقوقو په لوی مبحث کې د کرامت حق یو مهم اصل ګڼل شوی دی. دلته به د دې اصل په باب بحث وشي.

**کلیدی کلیمات:** انسان، کرامت

**انساني کرامت**

مخکې له دې چې د انساني کرامت په اړه بحث وکړم نو د حق پېژندل اړين دی.

حق: په لغت کې د ربښتيا، سم، د باطل ضد، امتياز، مکنت، مال او دولت او نورو په معنا دی. په خپل حقوقي مفهوم سره د امتياز، آزادی، مصؤنيت، ادعا او قدرت په معنا سره هم استعمال شوی دی. که وضعي قوانينو ته وکتل شي نو په همدې څلورو مفاهيمو سره استعمال شوی لفظ دی. يعنې حق يو ډول آزادي او امتياز دی او يا حق يو ډول مصؤنيت او د نورو مداخله ده او يا هم د نورو څخه يو ډول مطالبه او ادعا ده.

دا رنگه حق يو ډول قدرت هم دی چې يو شخص يې د قرآني احکامو په رڼا او د وضعي قوانينو په بنسټ د نورو په وړاندې لري. ځينې حقونه داسې دي چې يو اړخيز وي او يوازې په يو شخص يا څيز پورې منحصر کېږي لکه د ماشوم لپاره د هغه د رضاعت حق او نور، خو ځينې نور بيا دوه اړخيزه او څو اړخيزه وي او په متقابله توگه لازمېږي لکه د مور او پلار حقونه په بچيانو او د بچيانو په مور او پلار، د ښځې پر خاوند او د خاوند په ښځې، د مامور په امير او د امير په مامور او داسې نور د بيلگې په توگه ياولی شو.

د پورتنيو وضاحتونو څخه څرگندېږي چې د کرامت حق د انسانانو تر منځ يو همه شموله حق دی چې يو انسان يې د بل په وړاندې لري. د انساني کرامت له مخې د انسان جنسيت، ژبه، څېره، فزيکې او معنوي ځانگړنې، فکر، قوم او نور د هر ډول تيري او سپکاوي څخه خوندي دي. انسان بايد د بل انسان د توهين، سپکاوي، رټلو، بې گنا مجازات کولو، تهمت، غيبت، عيب وينې او نور مظالمو څخه ځان وساتي او د دې او دې ورته شاملو ټولو کړنو ترسره کول د انساني کرامت خلاف او منافي کړنې دي. اوس د وضعي قوانينو په رڼا کې د کرامت د حق په اړه بحث کوم.

لومړی- د اسلامي شريعت په رڼا کې د بشر او انسان لپاره د هغوی ټول حقونه په تفصيل بيان شوي دي. کوم انساني حقونه چې د اسلام مبارک دين او قرآن او نبوي احاديثو کې پر انسانانو لازم شوي دي، يو هم د کرامت حق او اصل دی. په دې اړه د اسلامي شريعت حکم او لارښوونه دا وړ ده چې هر انسان د ځمکې پر مخ د ژوند کولو حق لري او بې مورده د چا ژوند اخستل لوی جرم او د جهنم د عذاب سبب گرځي. يو انسان د اسلامي شريعت له مخې د هر ډول تبعيض، رټنې، سپکاوي، ظلم، تحقير، تحصير او نورو بدمرغيو راوستلو څخه خوندی دی. په دې هکله الله تعالی د قرآن کريم په سوره تين کې د انساني خلقت په اړه داسې فرمايلي دي: (لَقَدْ خَلَقْنَاالْاِنْسَانَ فِیْ أَحْسَنِ تَقْوِیْمٍ).(التين، ۴)ژباړه: يقيناً ما انسان په ډېر ښايسته شکل او بڼې سره پيدا کړی دی. په دې مبارک ايت کې الله تعالی په وضاحت سره د انساني کرامت او د انساني بڼې د ښکلا په اړه فرمايلي دي چې انسان ښکلی دی او دغه ښکلی جسم توهينول، ورپسې سپکې سپورې ويل، ناوړه نومونه کارول او د انسان په قوراه او شکل پورې خبرې کول او ملنډې وهل ناروا کړنې دي. يو بل ځای الله تعالی فرمايلي دي: (وَلَقَدْ کَرَّمْنَا بَنِیْ آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فَی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَی کَثِيْرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلاً).(اسراء، ۷۰) ژباړه: دا زمونږ پيرزوينه ده چې بني آدم ته مو کرامت ورکړ، په وچه او لمده کی مو سپرلی ورکړي او له پاکو شيانو څخه مو روزی ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور

وښبله. د قرآن کريم دا مبارک ايت د انساني کرامت يو لوی مثال او ستر دليل دی چې دا راته بيانوي چې د بني آدم بچيان د عزت، وقار، او درنښت وړ دي. د انساني کرامت مفهوم د قرآن کريم په ګڼو نورو آيتونو کې په بيلابيلو الفاظو سره بيان شوی دی.

همدارنګه خوږ پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم هم په خپلو احاديثو او ارشاداتو کې د انساني کرامت د ساتنې اصل ته پاملرنه کړې ده او امت يې د يو بل احترام، په يو بل ظلم نه کولو، د يو بل د سر او مال خونديتوب، د تبعيض او حسد څخه ځان ساتنې او په هر حال او مقام کې متقابل درناوي ته هڅولي او دا کار يې د ټول اسلامي امت وجيبه او دنده بللې ده. په دې هکله د نبي کريم (ص) مبارک حديث دی چې فرمايي: (عن سليمان ابن بريدة عن أبيه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا امر امير على جيش أو سرية أوصاه فى خاصته بتقوى الله و من معه من المسلمين خيراً ثم قال ( اغزوا باسم الله و فى سبيل الله قاتلوا من كفر بالله اغزوا ولا تغلوا ولا تغدروا ولا تمثلوا ولا تقتلوا وليداً و إذا لقيت عدوك من المشركين).(مسلم، ج3، ص: 1356)

ژباړه:د حضرت سليمان ابن بريده (رض) څخه روايت دی هغه د خپل پلار څخه روايت کوی، وايي چی کله به رسول الله (ص) يو امير لښکر او يا يو سريه ټاکه نو هغه ته به يی وصيت کاوه په ويره سره له الله ج څخه او امر به يی ورته کوو يه خير سره له هغو مسلمانانو سره چی له ده سره به ملګری وه. بيا به يی ورته ويل چی غزاء کوئ د الله ج په نامه سره د الله ج په لاره کی، جنګ کوئ د هغه چا سره چی کفر يی کړی دی د الله ج لپاره، غزاء کوئ تعصب مه کوئ، غدر مه کوئ، بدرنګی (قطع د اعضاء) مه کوئ، مه وژنئ ماشومان کله چې د مشرك دوښمن سره مخ شئ.

د دې مبارك حديث څخه د انسان مقام او شخصيت ته د درنښت موضوع په وضاحت سره څرګندېږي ځکه چې نبي کريم (ص) د غزاګانو پر مهال د لښکرو اميرينو ته لارښوونه وکړه چې کله هم تاسو جنګ کوئ نو د الله تعالی په نوم پيل وکړئ، او خاص د الله تعالی په لار کې جنګ او جهاد وکړئ، که تاسو د هغه چا سره په جنګ کې ياست چې کافر وي نو کافر هم د وژل کيدو وروسته د انساني کرامت په بنسټ د هغه اندامونه (غوږ، سترګه، پزه، لاس او پښه) حرام ګرځول شوي دي.

د پورتني مبارك حديث څخه د انساني کرامت د اصل د ساتنې او درناوي لارښوونې جوتيږي او د انسان شخصيت معزز بلل شوی دی. همدارنګه په يو بل حديث کې راغلي دي: (قال رسول الله ص: فإن دماءكم و أموالكم و أعراضكم حرامٌ عليكم كحرمةِ يومِكم هذا فِى بلدِكم هذا فِى شهركم هذا. رواه مسلم، ج9، ص:32، باب تغليظ تحريم الدماء و الاعراض والاموال).

ژباړه:رسول الله (ص) فرمايي: په تحقيق سره وينه ستاسو، مالونه ستاسو او عزت ستاسو حرام دی پر تاسو لکه حرمت د نن ورځی ستاسو(چی د عرفات ورځ وه) په دغه مياشت کی (چی ذوالحجه وه) ستاسو په دغه ښار کې (مکه).

له دې مبارك حديث هم د يو چا د وينې، مال، او عرض او عزت ته زيان رسول حرام بلل شوي دي. نو انسان په هر لحاظ محترم دی او نبي کريم (ص) په خپلو ټولو لارښوونو او واقعو کې خپلو امتيانو ته د رحم،

مهرباني او د مسلمانانو سره د مينې او د هغوئ د سر او مال او حيا او عزت د خونديتوب لارښوونې کړي دي چې په کې په يو ډول نه په يو ډول د انساني کرامت د درنښت او ساتنې سپارښتنې موجودې دي. د چا د شخصيت توهين، بدې ردې ويل او نور داسې کړنې چې د انسان د توهين او سپکاوي سبب ګرځي ټول منع ګرځول شوي دي.

رسول الله (ص) په يو بل حديث شريف کې فرمايي: (المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده).(البخاری، ۱۰) ژباړه: ريښتينی مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس د شر څخه په امن کې وي. له دې حديث شريف څخه جوته شوه چې د انسان شخصيت ته د هيڅ يوې وسيلې په واسطه زيان او نقصان رسول سم کار نه هغه که د ژبې ضرر وي او که د لاس ضرر؛ نو انسان د خپل انساني کرامت له مخې د هر ډول زيان او تاوان څخه خوندي دی.

## وضعي قوانينو کې د کرامت اصل

د کرامت حق د بشر حقونو يو له بنسټيزو اصولو څخه دی چې په يو ساده تعريف سره يې داسې پيژنو: کرامت د هغه ارزښت او درناوي څخه عبارت دی چې يو انسان يواځې د خپل انساني والي په خاطر ترې برخمن دی. د همدې کرامت د شتون په بنسټ يو انسان د بل سره برابر ګڼل کيږي. د کرامت صفت د انسانيت او د انساني ذات او موجود پورې اړوند څيز دی چې ټول انسانان يې په لرلو سره د نورو سره برابر دي.

د اسلام په مقدس دين کې هم انساني وجود او ذات په رسميت پيژندل شوی او ځانګړی ارزښت او مقام لري چې پورته پرې بحث وشو. هر انسان د ځانګړي شخصيت، حال، مقام او درنښت لرونکی دی.

دلته سړيوالی، ښځه توب، مسلماني او نامسلماني د کرامت لپاره معيار نه دی بلکې انساني والی د کرامت اصلي معيار ګڼل شوی دی. هر انسان محترم او د درناوي وړ دی او د دين، قوميت، جنسيت، ژبې او مذهب په بنسټ بايد د نورو احترام او يا بې احترامي ونه شي. د انساني کرامت په هکله ځينې قانوني ضمانتونه په ځينو داخلي وضعي قوانينو او همدارنګه د بشر حقونو د نړيوالې اعلاميې په څلورمه، پنځمه، شپږمه او نهم شميره مادو کې او د مدني حقونو د بين المللی کنوانسيون په اومه، اتمه، او نهمه شمېره مادو کې او د بشر حقونو د اسلامي اعلاميې په لومړی، څلورمې، يوولسمې او شلمه شمېره مادو کې څرګند شوي دي.

## د کرامت د حق شمول والی

د پورتنيو وضاحتونو څخه دا جوته شوه چې د کرامت حق يو ټول شموله حق دی او د انساني ټولنې ټول وګړي يې د يو بل په وړاندې لري. ويلی شو چې د کرامت حق ماشومان د لويانو، لويان د ماشومانو، خاوند د ښځې، ښځه د خاوند، مسلمان د مسلمان، ګاونډي د ګاونډي، مامور د امير، امير د مامور، ځوان د بل ځوان او د ټولنې د نورو وګړو، معلول د معلول او روغ، روغ د معلول او نورو خلکو، مهاجر د مقيم، مقيم د مهاجر او نورو، کوربه د ميلمه، ميلمه د کوربه او نورو وګړو په وړاندې او لنډه دا چې ټول د ټولو په وړاندې لري او بايد مراعت يې کړي. د کرامت حق په ټولنه کې يو متقابل حق دی.

### د کرامت د حق متخلفین او سزا يې

د حق پلي کوونکې او مکلفين هغه وګړي او ارګانونه دي چې د حق لرونکو وګړو د حقونو څخه په ملاتړ او پراختيا ورکولو مکلف دي. د حق پلي کوونکی هغه چا ته ويل کيږي چې د ځواک او قوت لرونکی وی او دنده، نقش او مقام يې د نورو د حقونو څخه ملاتړ او ساتنه ده. په اسلامي ټولنه کې دا مسوليت د وخت حاکم اسلامي نظام ته ورګرځي او په نورو نړيوالو ټولنو او هېوادونو کې د هغه هېواد اړوند حوکمتونه د دې او نورو حقونو د ساتنې او پلي کولو دنده په غاړه لري. دا مسوليت د دولتونو ټولو ارګانونو ته متوجه دی لکه: د حکومت مشر، وزيران، سيمه ييزه چارواکي، قاضيان او عدلي مسولين، پوليس، د مسافرتي چارو وړاندې کوونکي، امنيتي او دفاعي ځواکونه، استادان، علمای کرام، د ښوونځيو او پوهنتونونو مسولين او داسې نور يادولی شو.

د کرامت اصل ته په کتو ويلی شو چې د يو انسان په وړاندې په ناحقه سره يوه وړه خبره او بد نسبت او يا حتی د يو چا مخ ته لاړې توپ کول هم د دې اصل څخه سرغړونه ده او د ټولنيزو نزاکتونو خلاف کړنه ګڼل کيږي. (انساني کرامت د هر ډول تعرض څخه خوندي دی) او حکومتونه يې په ملاتړ او ساتنې مکلف دي.) همدارنګه: (د انساني کرامت خلاف مجازات منع دي.).

سپکاوی، بد الفاظ کارول، غيبت، تور پورې کول، کنځل، چا ته په کمه او سپکه کتل، دوکه، دروغ، خوړو او ميلمستيا په سر د يو چا رټل، ډېر او بې ځايه خندل، په لوړ اواز خبرې کول، په موټر او نورو عامو ځايونو کې منفي او کرکه پارونکې کړنې ترسره کول، د ژبې، لاس او نظر په واسطه د يو چا زيانمنول، په مجلس کې بې مورده او ډېرې خبرې کول، د مشرانو او د ټولنې د نورو وګړو په مخ کې نشه يې توکي کارول او د نورو ګڼو ټولنيزو نزاکتونو نه مراعت کول ټول د انساني کرامت خلاف کړنې دي. نورې ډېر بېلګې هم لري.

### پايله

د کرامت د حق له پورتني تحليل او شننې څخه جوتيږي چې دا حق په بشري ټولنه کې يو مهم اصل دی او دا حق د اسلام په مبارک دين، نورو نړيوالو اديانو، ملي او نړيوالو وضعي قوانينو او همدارنګه د افغانستان د تيرو نظامونو د هري دورې په اساسي قوانينو کې ذکر شوی دی، ساتنه، پلي کول او درناوی يې د حکومتونو، د ټولنې د ټولو وګړو ګډ مسوليت دی. نو بناً مونږ ټولو ته د اسلام د دين د پيروانو په توګه په کار دي چې بايد انسان قدر وکړو او د هغې د کرامت او شخصيت درناوی وکړو نو په دې سره به مو د انسان عزت او وقار هم ساتلی وي او هم به مو د اسلام د مبارک دين د اساساتو او حکمونو پيروي کړې وي.

د بشري ټولنې د ټولو غړو ذاتي کرامت، انتقال نه منونکې او برابر حقونه په نړۍ کې د ازادی، ټولنيز عدالت او سولې د رامنځ ته کيدو لامل ګرځي.

**سرچينې**

١ـ قرآن کريم.
٢ـ صحيح البخاری.
۴ـ صحيح المسلم.
٣ـ جاويد، رحمان علی. (١٣٩٦ل). جزوۀ آموزش حقوق بشر. تحقيق و ترجمه. ناشر: کميسيون مستقل حقوق بشر افغانستان.
۴ـ د افغانستان د مخکنی اساسي قانون مسوده.
۵ـ د نړيوالو بشري حقونو د اعلاميې سريزه.
٦ـ www.parstoday.com/ps

پوهندوی محمدرحیم خاکسار

# د توریزم سیاسي اغېزې

## لنډیز

اوس مهال توریزم په نړۍ کې زیاته پراختیا موندلې او څو اړخیز فعالیت دی، چې زیاتې مثبتې اغېزې لري. سره له دې چې توریزم سیاسي حرکت نه دی، مګر په یوه هېواد کې د سیاسي ثبات د ټینګښت لامل ګرځي او د سیاسي باور کچه یې لوړوي. د توریزم پراختیا اقتصادي پانګه په خوځښت راولي او د کورني امنیت د پیاوړتیا ترڅنګ د یوه هېواد د نړیوال مشروعیت د لوړوالي لامل هم ګرځي. همدارنګه توریزم کولای شي، چې د مختلفو ټولنو ترمنځ د یووالي او نږدیوالي روحیه غښتلې او د هغوی ترمنځ د سیاسي ټکرونو او ترینګلتیاوو مخه ډب کړي. د څېړنې موندنې ښیې، چې د توریزم پراختیا په مختلفو هېوادونو او ټولنو کې د سیاسي ثبات کچه لوړه کړې، امنیت یې غښتلی کړی، سیاسي تاوتریخوالی یې راکم کړی او د ملتونو ترمنځ یې د همکارۍ او تفاهم زمینه برابره کړې ده.

## سریزه

د نړۍ د پرمختللو او مخ پرودې هېوادونو د عاید مهمه سرچینه توریزم ګڼل کېږي او د نړۍ هېوادونه هڅه کوي، چې د سیلانیانو د زیات جذب لپاره ځانګړې اسانتیاوې رامنځته او داسې سیاستونه په پام کې ونیسي، چې پرمټ یې ګڼ شمېر سیلانیان را مات کړي. اوس مهال په نړۍ کې د توریزم صنعت له سیاسي، اقتصادي او فرهنګي پلوه

زيات ارزښت لري او د هرې ورځې په تيريدو سره يې د اقتصادي ارزښت ترڅنګ سياسي ارزښت هم زياتوالی مومي. د توريزم پراختيا د يوه هېواد د اقتصادي او سياسي غوړيدا سره زياته مرسته کولای شي، له همدې امله اوس مهال توريزم په نړۍ کې د يوه محرک او مولد صنعت په توګه پېژندل کېږي او ټولې اقتصادي برخې تر خپل اغېز لاندې راولي. د نړۍ زياتره هېوادونه توريزم د عايد، بوختيا، د خصوصي سکټور د ودې

او د بيخبناوو د جوړولو اصلي لامل او سرچينه بولي او هغه عوايد چې ددې صنعت له لارې ترلاسه کېږي د کوربه هېواد په ناخالص ملي توليد کې شمېرل کېږي، چې له اقتصادي ودې او سياسي ثبات سره مرسته کولای شي. اوس مهال توريزم په نړۍ کې د کار او شغل د توليد ستر صنعت دی او کولای شي، چې د مخ پرودې هېوادونو د بوختيا او کارموندنې په وضعيت کې د پام وړ بدلون رامنځته کړي.

## د څېړنې مبرميت

توريزم د سياسي، اقتصادي او فرهنګي پراختيا ترڅنګ د اسلام مبارک دين د خپراوي مهم لامل هم دی او د هرې ورځې په تيريدو سره يې هر اړخيز ارزښت زياتيږي. د توريزم پراختيا کولای شي، چې د بيلابيلو هېوادونو په سياسي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت کې مثبت بدلون رامنځته کړي، له همدې امله د نړۍ زياتره هېوادونه د توريزم له سياسي، اقتصادي او فرهنګي ښيګڼو او مزاياوو څخه خوند اخلي او له دې لارې زيات عوايد او بوختياوې ترلاسه کوي او خپلو سياسي موخو ته ځانونه رسوي. اوس مهال توريزم په نړۍ کې زياته پراختيا موندلې او د نړۍ زياتره هېوادونه په دې بريالي شوي، چې د توريزم له لارې خپل سياسي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت ښه کړي او پر خپلو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ستونزو لاسبرې ومومي. پرهمدې بنسټ د توريزم سياسي، اقتصادي او ټولنيز ارزښت ته په پام سره علمي بنسټونه او څېړنيز مرکزونه اړ دي، چې د توريزم د اغېزو په اړه زياتې څېړنې او ليکنې ترسره کړي، ترڅو ارزښت يې څرګند او له پراختيا سره يې مرسته وکړي.

## موخې

۱. د توریزم د سیاسي اغېزو څېړنه،

۲. د توریزم د سیاسي ارزښت څرگندونه.

**پوښتنې**

۱. توریزم کومې سیاسي اغېزه لري؟،

۲. د توریزم سیاسي ارزښت څه دی؟

**د څېړنې میتود**

په دغه مقاله کې له توصیفي - تحلیلي میتود څخه گټه اخیستل شوې، چې معلومات یې له بیلابیلو سرچینو لکه: له کتابونو، مجلو، ژونالونو او نورو راټول، تحلیل او تجزیه شوي دي.

**د توریزم سیاسي ارزښت**

د توریزم صنعت په نړۍ کې ځانگړی ځای لري او د پرمختللو او مخ پرودې هېوادونو د عاید مهمه سرچینه گڼل کېږي، له همدې امله د نړۍ هېوادونه د بهرنیو سیلانیانو د جذب لپاره مناسب سیاستونه په پام کې نیسي. د ماشیني ژوند له پیل سره سم د توریزم ارزښت په فردي او ټولنیز ژوند کې له ورایه څرگند شوی دی. څرنگه چې توریزم د ټولنیزې پدیدې په توگه مثبتې او منفي اغېزې لري، مگر مناسب سیاست او پلان جوړونه کولای شي، چې مثبتې اغېز یې زیاتې او منفي اغېزې یې راکمې کړي. توریزم کولای شي، چې پر سیاست، فرهنگي او طبیعي میراثونو، فرهنگي تنوع، خلاقیت، ژوند چاپیریال او د ټولنې پر توازن مثبتې اغېزې ولري (۱۰: ۲۶۱ مخ).

توریزم د یوه هېواد په اقتصاد، فرهنگ او سیاست غوره اغېزه لري، توریزم بوختیاوې ایجادوي، اقتصادي پانگه په خوځښت راولي، کورنی امنیت پیاوړی کوي او په نړیواله

کچه د یوه هېواد د سیاسي مشروعیت کچه لوړوي. د توریزم سیاست د هغو دولتي اقداماتو او تصمیمونو ټولګه ده، چې د توریزم د پراختیا او پیاوړتیا په موخه ترسره کېږي او اصلي مسؤول يې دولت وي، مګر ځينې مهال خصوصي سکټور او ټولنيز فعالان يې هم ترسره کولای شي. د توریزم پالیسي ددې صنعت د ودې لپاره په ټولو ټولنوکې الزامي وي. توریزم په ملي، نړیواله او سیمه ییزه کچه د اقتصادي او سیاسي غوړیدا مهم لامل ګڼل کېږي، پرهمدې بنسټ د توریزم سیاست د دولتونو لپاره زیات ارزښت لري (۱۵: ۱٦مخ).

پرهمدې بنسټ توریزم زیاتې سیاسي اغېزې لري، چې په لاندې ډول يې ترڅېړنې لاندې نیسو:

**۱. د سیاسي ثبات پیاوړتیا:** د سیاسي تعاملاتو منظم جریان ته سیاسي ثبات ویل کېږي او چېرته چې سیاسي تعاملات نا منظم وي، سیاسي نظام يې بې ثباته وي. سیاسي ثبات هغه وضعیت دی، چې ځانګړې قاعده مندي پکې شتون ولري او د حکومت او اړوند بنسټونو راتلونکی چلند او کړنې يې د کتنې وړ بنسټیز بدلون ونه مومي او هم يې ټولنيز، اقتصادي او سیاسي فعالان وکړای شي، چې له اندیښنې پرته خپل منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه طرحه او تطبیق کړي، له همدې امله سیاسي ثبات د یوه هېواد د اقتصادي پراختیا لامل ګرځي. توریزم هم د توریستي سیمې د ارزښت، نړیوال شناخت او سیاسي ثبات د لوړیدو لامل کېږي او د هغو سیاسي ارزښتونو د خپریدو لامل هم ګرځي، چې د دولت او وګړو په وسیله ترسره کېږي (۱۱: ۳۳۰ مخ). په داسې حال کې چې سیاسي بې ثباتي هغه حالت دی، چې پکې موجوده سیاسي نظام د ستونزو او یا بحران سره مخ شي او د سیاسي بدلونونو احتمال يې زیات شي، چې پردې مهال د حکومتي دستګاه اغېزه کمیږي او اقتصادي فعالیتونه مختل او سیاسي تاوتریخوالی يې لوړې کچې ته رسيږي، چې په پایله کې يې بهرنۍ لاسوهنې

زياتوالی مومي، رواني او ټولنيز امنيت کمزوری کوي او د غير مترقبه ګډوډيو زمينه برابروي (۵: ۴ مخ).

سره له دې چې توريزم سياسي حرکت او خوځښت نه دی، خو په يوه هېواد او ټولنه کې د سياسي ثبات د ټينګښت مهم لامل ګڼل کېږي او څرګنده ده، چې توريزم په دې برخه کې ځانګړې اغېزه لري او دا اغېزه په ټوليزه توګه دوه اړخېزه ده، چې له يوه اړخه د عايد په زياتولو کې ونډه لري، چې د سياسي ثبات لپاره مهم عنصر دی. همدارنګه په يوه توريستي سيمه کې د سيلاني ميشتيدل د رواني اړخه د سياسي ثبات د شتون په معنا دی. د دويم اړخ اغېزه په مستقيمه او يا نامستقيمه توګه د سيلاني د اصلي ټاټوبي او د سيلاني د لنډې مودې د ټاټوبي د وګړو ترمنځ د سياسي باور او يو پر بل د ډاډ وړ لامل ګرځي.

د توريزم وده له سياسي ثبات سره نږدې اړيکه لري، څومره چې د سياسي ثبات کچه لوړه وي، په همغه تناسب د توريزم د ودې کچه هم لوړه وي، خو د توريزم وده په خپل وار سره د سياسي ثبات د پايښت زمينه برابروي. همدا لامل دی، چې توريزم او په توريزم پورې تړلې چارې د سياسيونو په پلانونو او کاري اجنداو په خورا مهمه برخه کې ځای لري. امريکايي نامتو ژورناليست ويليام ډې پاترسون په دې باور دی، چې توريزم د نړيوال سياسي ثبات په پيدايښت او پايښت کې اغېزمنه ونډه لري(۲: ٦۰ مخ).

**۲. د امنيت پياوړتيا:** نن ورځ امنيت د توريزم ستراتيژۍ د پراختيا بنسټيز اصل دی، د امنيت شتون د اقتصادي ، ټولنيز، فرهنګي او توريزم لپاره مهم عنصر دی او له دې پرته هوسا ژوند او د استعدادونو غوړيدا په هيڅ انساني ټولنه کې ټينګښت نشي موندلی، چې په دې لړکې سياسي ثبات او د قانون حاکميت هغه موارد دي، چې په ټولنه کې د امنيت احساس رامنځته کوي. د توريزم په پراختيا ګڼ لاملونه اغېزه لري، چې ترټولو

مهم یې امنیت دی، هوساینه، ارامي او امنیت هغه مهم مسایل دي، چې د نړۍ له مختلفو سیمو څخه سیلانیان را جلبوي. په یوه هېواد کې د امنیت د شتون پرته توریزم بنه نشي نیولی، ځکه چې امنیت د انسان بنسټیزه اړتیا ده، چې نه شتون یې په توریزم ناوړه اغېزه کوي. په یوه هېواد کې د زیاتو سیلانیانو شتون د امنیت ستره نښه ده، په یوه هېواد کې د سیلانیانو شتون د اقتصادي پراختیا او فرهنګي تبادلاتو پرته په دغه هېواد کې د امنیت د شتون په اړه ښه تبلیغ ګڼل کېږي ، چې دا کار د سیلانیانو د زیاتوالي لامل ګرځي او په دې توګه په ټولنه کې د امنیت کچه لوړوي او پرې مثبته اغېزه کوي او نړۍ ته یې د خوندي سیمې په توګه معرفي کوي. له همدې امله زیاتره کار پوهان په دې باور دي، چې په یوه هېواد کې د توریزم پراختیا د ملي امنیت د ثبات مهمه نښه ګڼل کېږي (۳: ٦۳ مخ).

پر همدې بنسټ نباکوئي او ملګري یې په دې باور دي، چې د توریزم پراختیا په سیمه ییزه کچه د هېوادونو ترمنځ د امنیت د لوړوالي لامل کرځي او د همغږۍ کوونکي فکتور په توګه کولای شي، چې په سیاسي، فرهنګي او اقتصادي برخو کې د پراختیا زمینه برابره کړي (۱۳: ۲۱ مخ). له همدې امله توریزم کولای شي، چې د نړۍ د مختلفو سیمو وګړي د یو بل ترڅنګ ودروي او د هغوی ترمنځ د زیاتې همکارۍ او پیوستون لامل شي، چې دا کار په خپله د تفاهم، سولې او امنیت زمینه برابروي او د سیاسي ټکرونو او ترینګلتیاوو مخه نیسي (۹: ۸۲ مخ).

**۳. د بېکارۍ د کچې په ټیټوالي سره د سیاسي ترینګلتیا کمښت:** د توریزم صنعت پراختیا د اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي پراختیا لامل ګرځي او د نړۍ زیاتره هېوادونه هڅه کوي، ترڅو د خپلو عوایدو یوه مهمه برخه د توریزم د صنعت له لارې تامین کړي، ځکه چې ددې صنعت عواید د لږ لګښت په پرتله ډېر زیات دي. د توریزم صنعت د

نړیوال سازمان (WTO) د اټکل له مخې په ۲۰۱۰م کال کې په ټوله نړۍ کې د سیلانیانو شمېر یو میلیارد تنو ته رسیده، چې په دې لړکې د نړۍ هېوادونو له ۱۵۵۰ میلیارد څخه زیات عواید ترلاسه کړي و او له دې برخې د کارموندنې لړۍ یې ۱۱,۲ ځله د نورو برخو نه چټکه وه، ځکه چې په نړۍ کې نوموړي صنعت له سل میلیونو څخه زیات کاري فرصتونه رامنځته کړي و. د توریزم صنعت د بیکارۍ د کچې په ټیټوالي، د عاید د کچې په زیاتوالي، د انرژۍ د سرچینو په تامین او د لاسي صنعت د بازار پرغوړیدا غوره اغېزې لري او د ځینو شمېرو له مخې کابو ۱۰ میلیونه وګړي ددې صنعت له لارې روزې ترلاسه کوي. سره له دې چې اسپانیا ډېرې لږې توریستي جاذبې لري، مګر بیاهم ددې لارې ۳۰ یا ۴۰میلیارد ډالره عواید ترلاسه کوي. د مصر هېواد ۴۹ سلنه مالي سرچینې او د ترکیې هېواد ۳۷ سلنه مالي سرچینې د توریزم له صنعت څخه تامینوي. په یوه هېواد کې د بېکارۍ د کچې ټیټوالی د سیاسي بې ثباتۍ مخه نیسي او هغه سیاسي ترینګلتیا چې د بېکارۍ له امله رامنځته کېږي، د توریزم په پراختیا سره یې کچه د پام وړ ټیټوالی مومي (۴: ۲۳۸ مخ).

اوس مهال د یوه هېواد د اقتصادي پراختیا په ادبیاتو کې مهم مسایل بوختیا او بېکاري ده، ځکه بوختیا او کارموندنه د وګړو د عاید مهمه سرچینه او په ټولنه کې د بیوزلۍ د له منځه وړلو مهم لامل دی. د بې‌کارۍ پراختیا د اقتصادي ودې د ټیټیدو او د ټولنیزو او سیاسي شخړو د رامنځته کېدو مهم لامل دی. له همدې امله توریزم داسې یو صنعت دی، چې وګړي په بېلابېلو مهارتونو او مختلفو عمرونو کې په کار بوختوي او پر بېکارۍ د غلبې مهمه لار ده، له همدې امله توریزم په مختلفو ځایونوکې د دایمي، موسمي او نیم وخت بوختیاوې، د بشري ځواک لپاره برابروي او د بېکارۍ کچه راټیټوي. په توریزم کې د مستقیمې بوختیا پرته نورې کړنې چې له توریزم سره اړیکه

لري، لکه ساختماني چارې، کرایه، دست فروشي او داسې نور هم د سیمې وګړو ته برابروي او د سیاسي ترینګلتیا کچه را ټیټوي (۱۴: ۲۱۱ مخ).

په انساني ټولنوکې بېکاري مهم اقتصادي او ټولنیز مسایل دي، چې د نړۍ زیاتره هېوادونه او په ځانګړي ډول د دریمې نړۍ هېوادونه ورسره مخ دي، له همدې امله د بېکارۍ ستونزې د کمولو لپاره د شغلي فرصتونو د ایجاد یوازینۍ لار، د توریزم د صنعت پراخول دي. په یوه هېواد کې دبېکارۍ د کچې راټیټول د ټولنیزو کړکیچونو سربیره سیاسي کړکیچونه هم را کموي(۱۲: ٦ مخ). توریزم د نړۍ په مختلفو سیمو کې د کارموندنې مهمه سرچینه ده، له همدې امله د نړۍ په کچه په هرو نهو تنو کارګرو کې یو تن د توریزم په صنعت کې په کار بوخت دی او دا هغه مهم بنسټ او صنعت دی، چې زیات بشري ځواک یې په کار بوخت کړی او سیاسي کړکیچونه یې را کم کړي دي (۸: ٢٦۴ مخ).

**۴. د سیاسي ترینګلتیا کمښت:** توریزم د بوختیاوو او عاید په رامنځته کولو سره په یوه هېواد کې د سیاسي ترینګلتیا د کمښت لامل ګرځي، ځومره چې یو هېواد د ثبات، سولې او هوساینې څخه زیات برخمن وي، په همغه کچه کولای شي، چې د توریزم صنعت ته پراختیا ورکړي. زیاتره څېړونکي په دې باور دي، چې د وګړو ترمنځ اړیکې او تګ راتګ د سیاسي خرپړتیا د کمښت لامل کېږي او سولې، ملګرتیا او د یو بل منلو ته لار پرانیزي. په لویدیځو هېوادونو کې تر زیاته بریده د توریزم څخه د سیاسي موخو د ټینګښت لپاره ګټه اخیستل کېږي(https://dl-122thesis.blog.ir/post/38).

توریزم د نړۍ غوره عاید لرونکی صنعت دی، چې د هرې ورځې په تېریدو سره پراختیا مومي او زیاتره مخ پرودې هېوادونه د ګڼو ټولنیزو او اقتصادي ګټو سربیره د اقتصادي او ټولنیزو ننګونو په را کمولوکې هم ورځخه ګټه ترلاسه کوي. زیاتره

څېړونکي په دې باور لري، چې د توریزم پراختیا او اړوند فعالیتونه یې د سیمه یېزو سیاسي کړکیچونو او ترینګلتیاو په کمښت کې اغېزمنه ونډه ترسره کوي او د همپالنې او همکارۍ روحیه پیاوړې کوي. له همدې امله د نړۍ په زیاتره سیمو کې د توریزم صنعت د سیمه یېزو سیاسي واحدونو ترمنځ همغږي او همکاري رامنځته کړې ده (۷: ۱۵۸ مخ).

**۵. د سولې ټینګښت:** د څېړنو پر بنسټ توریزم د هرې ورځې په تېریدو سره د پراختیا په حال کې دی او په نړۍ کې غوره عاید لرونکې سرچینه ده. د توریزم د نړیوالې شورا د راپورونو له مخې هغه هېوادونه چې د توریزم پایدارې او ازادې صنایع لري، سولې او ټیکاو ته زیات میلان لري. هغه هېوادونه چې د تاوتریخوالي پیښې نه لري، توریزم یې د سولې ښې او مثبتې اړیکې لري او د تاوتریخوالي د پېښو پر وړاندې له ځانه مقاومت څرګندوي، چې دا پخپله د سولې د ټینګښت لامل ګرځي.

د یو شمېر سیاسیونو په اند سیلانیان د سولې سفیران دي، ددې سیاسي اړخ دا دی، چې د هغو هېوادونو ترمنځ د توریزم اړیکې وده کوي، چې سیاسیون یې یو او بل ته د لاسنیوي نیت ولري. ددې ترڅنګ سیلانیان د سیمو د لیدلو پرمهال د خپلو خلکو هغه دودونه هم په پوهیدلي او نا پوهیدلي توګه د ځان سره را وړي، چې په خپل هېواد کې یې ورته درنښت درلود. په دې ډول هغه سیاسي روحیه هم را لیږدول کېږي، چې د سیلاني په هېواد کې واکمنه ده. سیلانیان د هېوادونو د لیدلو پرمهال له بېلابېلو ریښتینو حالاتو سره مخ کېږي، دا حالات د یوې محرکې انګېزې په توګه د خپل اصلي ټاټوبي وګړو ته را لیږدوي او د بېلابېلو تبصیرو او غبرګونونو سره مخامخ کېږي (۱۶: ۴ مخ).

په نړیواله کچه د توریزم یوه سیاسي اغېزه دا ده، چې د نړۍ سیاسیون یې دې ته وهڅول، چې په ۱۹۶۷م کال د لومړي ځل لپاره یوه ورځ د توریزم لپاره په ځانګړي

توګه ولمانځي، چې له دې وروسته د سپتامبر۲۹مه د توریزم په نوم نمانځل کېږي. دا ورځ په یو شمېر هېوادونو کې د وګړو له خوا د یوه ملي جشن په توګه نمانځل کېږي. د توریزم صنعت د پراختیا او ودې لپاره د زیات شمېر هېوادونو په اداري تشکیلاتو کې د توریزم ځانګړي وزارتونه هم تاسیس شوي دي (۲: ۶۰ مخ).

د نړۍ هغه هېوادونه چې د سولې او ټیکاو کچه یې لوړه ده، له زیات اقتصادي او سیاسي غوړېدا څخه برخمن دي، له همدې امله زیاتره کار پوهان په دې باور دي، چې توریزم د سولې او ټیکاو د پراختیا مهم لامل دی او کولای شي، چې انساني ټولنې، فرهنګونه او تمدنونه له یو بل سره په اړیکه او تماس کې وساتي او د وګړو په اذهانو کې د ګډ ژوند او سولې تخم وشیندي او د ثبات، هوساینې او امنیت له استمرار سره مرسته وکړي(۱۰: ۲۵۹ مخ).

**۶. د قومونو او ملتونو ترمنځ د اړیکو ټینګښت:** د توریزم په پراختیا مختلف عناصر اغېزه لري، چې له دې ډلې څخه یو هم انساني اړیکې دي او دا داسې اغېزه ده، چې تر ډېره د سیلاني په ذهن کې پاتې کېدای شي او توریزم په همدې اړیکو ولاړ دی. د سیاسي او ټولنیزو علومو پوهان په دې باور دي، چې د نړۍ د وګړو ترمنځ اړیکې او زیات تماسونه کولای شي، چې سیاسي ترینګلتیاوې را کمې او د هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې غښتلي کړي، له همدې امله د توریزم پراختیا د نړیوالې همکارۍ، ورورولۍ او دوستۍ حس رامنځته کوي او د هېوادونو ترمنځ د متقابل احترام روحیه پیاوړې کوي. له دې پرته توریزم د وګړو ترمنځ د زغم او ورټیا کچه لوړوي، دیپلوماتیکې اړیکې یې پراخوي، چې په پایله کې یې سیاسي زغم او حوصله زیاتیږي (۶: ۱۰۱ مخ).

د فرګوسن د ۲۰۱۰م کال د کارابین په سیمه کې د یوې څېړنې موندنې په ګوته کوي، چې توریزم او پراختیا یې د یوې مهمې ستراتیژۍ په توګه د سیمې د هېوادونو ترمنځ له

پيوستون او همپالنې سره مرسته کړې ده. همدا رنګه ددې ډول فعالیتونو تر سیورې لاندې د مرکزي امریکا ګډ بازار له ۱۹۷۰ یمې لسیزې راهیسې بنه نیولې او پراختیا یې کړې ده، له همدې امله زیاتره څېړونکي په دې باور دي، چې د توریزم پراختیا په نړیواله او سیمه ییزه کچه د فرصتونو د ایجاد او سیمه ییز پیوستون مهم لامل ګڼل کېږي. پرهمدې بنسټ توریزم د هېوادونو ترمنځ فرهنګي، تاریخي، قومي، امنیتي او ژبنیزې اړیکې پراخوي(۷: ۱۴۱- ۱۴۲ مخونه). په همدې ترتیب څېړنې په ګوته کوي، چې د توریزم په پراختیا سره د قومونو ترمنځ فرهنګي، تاریخي، مذهبي او د جغرافیایي نږدیوالي اشتراکات د سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ زمینه برابروي او د فرهنګي تعاملاتو په زیاتیدو سره د سیاسي همپالنې زمینه هم برابروي (۱: ۱۲٦- ۱۰۵ مخونه).

نن ورځ توریزم د سیاسي واحدونو ترمنځ د همپالنې د پراختیا اغېزمن لامل ګڼل کېږي، له همدې امله زیاتره د سیاسي علومو څېړونکي باور لري، چې توریزم د اقتصادي اغېزو ترڅنګ کولای شي، چې د سیاسي – فضایي واحدونو د کلک پیوستون لامل هم وګرځي او د ملي او ښو اړیکو حس پیاوړی او له سیاسي همپالنې سره مرسته وکړي (۷: ۱۴٦مخ).

**پایله**

د پورتنۍ لیکنې په پای کې دې نتیجې ته رسیږو، چې توریزم د اقتصادي او ټولنیزو اغېزو ترڅنګ سیاسي اغېزې هم لري. د توریزم صنعت د نړۍ د پرمختللو او مخ پرودې هېوادونو د عوایدو مهمه سرچینه او د کاري فرصتونو د ایجاد ستر لامل دی، چې د هېوادونو پر سیاست، اقتصاد او فرهنګ څرګنده اغېزه لري او د بوختیاوو د ایجاد لامل ګرځي. د څېړنې موندنې ښیې، چې د نړۍ پرمختللي هېوادونه د سیاسي ثبات د ټینګښت او نړیوال مشروعیت د ترلاسه کولو لپاره له توریزم څخه ګټه پورته کوي او

زياتره لويديځ هېوادونه خپلو سياسي موخو ته د توريزم له لارې ځانونه رسوي. همدارنګه د څېړنې پايلې په ګوته کوي، چې د توريزم پراختيا سيمه ييزه همکاري پراخوي او د مختلفو قومونو او ملتونو ترمنځ د پيوستون لامل ګرځي او کولای شي، چې انساني ټولنې، فرهنګونه او تمدنونه يو له بل سره په اړيکه کې وساتي، سولې او ګډ ژوند ته يې وهڅوي، له همدې امله د توريزم پراختيا د سياسي ترينګلتيا او خړپړتيا د کمښت لامل کېږي او د سياسي کړکېچونو د راکمولو تر ټولو اغېزمنه لار ده. په همدې ترتيب د څېړنې موندنې ښيي، چې د توريستي سيمو زياتره اوسيدونکي د نورو وګړو په پرتله سوله خوښونکي او د امنيت تامين ته زيات ميلان لري، له همدې امله توريستي سيمې د تاوتريخوالي لږې پيښې لري او پروړاندې يې له ځانه مقاومت څرګندوي. همدارنګه د توريستي سيمو وګړي د نورو په پرتله زيات سياسي زغم او حوصله لري، چې دا پخپله د هېوادونو پر سياست مثبته اغېزه کوي.

**وړانديزونه**

د پورتنۍ ليکنې پربنسټ لاندې وړانديزونه ترسره کېږي:

۱. افغانستان د توريزم صنعت د پراختيا لپاره غوره فرصتونه لري، مګر له بده مرغه له دې فرصتونو څخه د هېواد په اقتصادي وده کې لازمه ګټه نه ده اخيستل شوې، نو لازمه ده چې اړوند اداري توريزم ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۲. په افغانستان کې بيکاري اوج ته رسيدلې ده، پکار ده چې د بېکارۍ کچې د راټيټولو لپاره د توريزم صنعت ته پراختيا ورکړل شي، ځکه چې توريزم کولای شي د بېکارۍ کچه را ټيټه کړي.

۳. د توریزم صنعت په اړه دې د هېواد د ټولو علمي مرکزونو له لوري پراخې څېړنې وشي او په دې اړه دې علمي کنفرانسونه، روزنیز پروګرامونه او سمینارونه په لار واچول شي.

**ماخذونه**

۱. افضلی، رسول احمدی و همکاران، دیپلماسی گردشگری و تاثیر آن بر همکاری و همگرایی میان کشورهای منطقه خلیج فارس، ایران: جغرافیا، سال ۱۲، شماره ۴۳، ۱۳۹۳.

۲. باوری، محمدرسول، د توریزم بنسټونه او په افغانستان کې توریستي امکانات، کابل: ازادۍ مطبعه، ۱۳۹٦.

۳. شجاعی، منوچهر، بررسی سیاست های دولت درصنعت گردشگری، ایران: دانش مدیریت، ۱۳۸٦.

۴. عظیمی، محمد عظیم، بنیاد های جغرافیای اقتصادی افغانستان، کابل: انتشارات خراسان، ۱۳۹۰.

۵. کازرونی، علیرضاء وهمکاران، بررسی اثر ثبات سیاسی بر رشد اقتصادی ایران، مدیرت و بازارگانی، دانشکده تبریز، ۱۳۹۸.

٦. کروبی، مهدی، بررسی نقش ارتباطات انسانی در توسعه صنعت جهانگردی،ایران: فصلنامه علوم مدیریت، سال چهارم، شماره ۱۳، ۱۳۸۸.

۷.کریمی، یدالله و همگاران، ارزیابی نقش گردشگری بر همگرایی واحد های سیاسی - فضایی ایران و اذر بایجان، ایران: نشریه تحقیقات کاربردی علوم جغرافیایی، سال هفدهم، شماره ۴۵، ۱۳۹۵.

۸. گی، چاک، وای، جهانگردی و چشم اندازی جامع، مترجم: علی پارسیاییان و محمد اعرابی، تهران: دفتر پژوهشهای فرهنگی، ۱۳۸۲.

۹. متقی، سمیرا، نقش امنیت در توسعه گردشگری بین المللی، گردشگری شهری، دوره۳، شماره۱، ۱۳۹۵.

۱۰. مجیدی، محمد رضاء، سیاست گردشگری خارجی در ایران، تهران: فصلنامه سیاست، مجله دانشکده حقوق وعلوم سیاسی، دوره ۴۰، شماره ۴، ۱۳۸۹.

۱۱. موثقی، سید احمد، بررسی تاثیر ثبات سیاسی بر توسعه، ایران: فصلنامه سیاست، دانشگاه حقوق و علوم سیاسی، دوره ۴۱، شماره ۳، ۱۳۹۰.

۱۲. میرزایی، رحمت، نقش صنعت گردشگری بر اشتغال و مقایسه آن با سایر بخش های اقتصادی، فصلنامه برنامه ریزی رفاه و توسعه اجتماعی شماره ۴، ۱۳۸۹.

۱۳. نباکوئی، سید امیر او همکاران، تاثیر گردشگری بر توسعه همگرایی منطقه ای کشورهای حوزه جنوب غرب اسیا، اولین همایش ملی ژئو پلیتیک جنوب غرب اسیا، دانشگاه گیلان، ۱۳۹۲.

۱۴. نصيري زاده، حمید رضاء و دیگران، جهانگردی و اشتغال، مجموعه مقالات سمینار: بررسی سیاست ها و برنامه های توسعه جهانگردی، ایران: دانشگاه علامه طباطبایی، ۱۳۸۲.

# د شیر زمان صادق لنډه پیژندنه

لیکنه: عزیز الله صادق

مخکې له دې چې د شیرزمان صادق په شاعرۍ وغږېږو او په ښېګڼو یې رڼا واچوو ښه به داوي چې لومړی نوموړی وپیژنواو د هغه د ژوند نه یوه اندازه خبرشو ترڅو په دې هم وپوهیږو چې د نوموړي ژوند دهغه په شاعرۍ کومه اغېز ښندلې ده؟

زوکړه:

د کونړ ولایت د برکونړ اسمار ولسوالۍ د شال د کلي د ملا نعمت الله په دینداره او متدینه کورنۍ کې په 1337 ل، ل کال یو ماشوم نړۍ ته سترګې پرانیستې، چې نوم یې پرې شیرزمان کیښود، نوموړی له همغه ورکتوب له وخته یو زیرکه او هوښیار ماشوم و، د وخت په تېرېدو چې نوموړی لږ رالوی شو پلار یې په خپله د وخت سره سم دیني زده کړې ورکولې او وروسته د کلي په جوماتـ کې د هغه وخت د یو استاد سره په مروجو زدکړو بوخت شو په همدې توګه یې لومړنۍ زدکړې په خپل کلي کې ترسره کړې.

له دې وروسته د خپلې کورنۍ سره اسمارکلي ته راکډه شو او داسمارپه مرکزي لیسه کې دنورو زده کړو له پاره شامل شو، نوموړي د خپل علمي ذوق او پیاوړې زیرکتیا له امله ډېرپیاوړی استعداد درلود چې له هم دې امله د پوهې په برخه کې د ښوونځي په دوران کې ډېر مشهورشو، هغه و چې په کال

1354ل،ل کې داسمارعالي لیسې د دولسم ټولګي څخه په ښه درجه فارغ شو ، خو دژوند دا رتیاو دپوره کولو له پاره اړ شو چې زده کړې ودروي او په کارپیل وکړي نو له همدې امله یې دعالي زدکړو بهیر په همدغه ځای کې تم شو، خوڅه وخت وروسته ورته زمینه برابره شوه اوپه 1368 ل،ل کال کې د کابل دټولنیزوعلومو دانستیټوت ( انستوتتیوټ علوم اجتماعي) څخه په داخل خدمت برخه کې دڅوارلسم ټولګي معادل دټولنیزو علومو په رشته کې فارغ شو.

دندې:

صادق ددولسم ټولګي له فراغت وروسته لومړی په 1355 ل، ل کال کې داسمار په لیسه کې د قراردادي ښوونکي په حیث دنده پیل کړه وروسته په 1356 کال کې د ځنګلاتو د مامور په توګه په دنده مقرر شو د دوه کالو دندې اجرا کولو وروسته کله چې په هیواد کې سیاسي بدلون رامنځ ته شو نوموړی د خپلې کورنۍ سره په خپل هیواد کې پاتې شواوپه 1358 ل، ل کال کې دمالیې مامور اوبیا دمالیې د مدیر په توګه په دنده وګمارل شو، چې دوخت دقانون سره سم دمالیې مدیر کفیل دولسوالۍ و، نو په همدې توګه یې څو کاله داسمار د ولسوال په حیث دنده اجراکړې ده ، په کال 1369 ل،ل کې نوموړی دخپلې کورنۍ سره کوزې پښتونخوا ته مهاجر شو او د باجوړ په یوسف اباد مهاجر کمپ کې میشته شو ، چې هلته ورته د حزب اسلامي مشرتابه لخوا د شهادت په ورځ پاڼه کې د فرهنګي مسؤل دنده وروسپارل شوه، د 1370 ل،ل کال وروسته په هیواد کې د سیاسی ګډوډیو اوکورنیو جګړو رامنځ ته کېدو له امله نوموړی په

١

مهاجرت کې پاتې شو او خپلو اولادونو ته یې دخوارۍ غریبۍ په پایله کې روزي پیدا کوله خو کله چې په 1381 ل،ل کال کې د بون کنفرانس د موافقت نامې وروسته د حامد کرزي په مشرۍ لنډ

مهـــاله اداره رامنځ ته شوه، نوموړی خپل ټاټوبي ته راستون شو او یووار بیایې په خپله رسمي دنده پیل وکړو، چــې د مالیي وزارت له خوا د کونړونو مستوفیت ته د کنترول د مدیر په صفت وروپیژندل شواو ترننـــه همدغه دنده پرمخ وړي،ددی ترڅنگ دکونړ اطلاعات او کلتور ریاست سره همکار و او کونړرادیو تلویزون کې یې اته کاله خوا وشا د خبریال،نطاق اوممثل په ډول دنده سرته رسولې ده.

فرهنگي فعالیتونه او غیر رسمي دندې:

شیرزمان صادق دوړکتوب څخه ذهین او هوښیارو، دښوونځي له وخته به یي ترانې ویلې او په ډرامونو کې به یي رول لوباوه ، یو شمیر ډرامونه او تمثیلونه یی هم لیکلي دي ، همدارنگه د هیــــواد په بېلابېلو رسنیو کې همکار پاتې شوی دی ، په بېلابېلو ادبي ټولنو کې یي دندې اجرا کړي او په لســــگونو چاپي رسنیو کې یی اشعار او مطالب خپاره شوي دي.

دمهاجرت په شپو ورځو کې دباجوړ پښتو ادبي ټولنې غړی ، ددیر پښتو ادبي کاروان غړی او د جندول پښتو ادبي ټولنې بنسټ گراوعمومي لارښود و، چې له همدغه لارې یي د کوزې پښتونخوا جندول په سیمه کې نوي تنکي ځوان شاعران چې نن په ادب او شعر و شاعرۍ کې دشهرت ترکچې رسیدلي دي د لراو بر پښتنو ټولنې ته یې ور وپیژندل.

په کال 1995 م کې یي دباجوړ پښتو ادبي ټولنې رسمي غړیتوب ترلاسه کړ ، پر همـــــدغه کال د دیر پښتو ادبي کاروان رسمي غړیتوب هم ورکړل شو،په کال 1997 م کې یې دجندول پښتو ادبي ټولنې بنسټ کېښود .

کله چې په 1381 ل،ل کې هیواد ته راستون شو، دلته په کونړ کې یو وار بیا دټپ شوي ادبي او فرهنگي بهیرپه بیا راژوندي کولو کې دمخکښواوسرلارو په کتار کې و دربډ، چې دهغه وخت د فرهنگي څیرو لکه د کونړ د پخواني

اطلاعاتو او کلتور رئیس محمد شفا مشفق ، دوکتورعبدالظاهرشکیب، محــمد ادریس غروال ، استاد نعمت الله کریاب ، استاد شرر سافي، کاتب شاه کاتب ، استاد ملوک رغون ، استاد عبدالحلیم همت ، رفیع الله حیدري او نورو ترڅنګ یي دپښتو ادب او فرهنګي بهیر د چټکتیا لپاره زیاتې هلې ځلې وکړې اودغه ټپ شوی بهیر یې روان او په پښو ودراوه، په همدغه وختو نو کې د کونړ راډیو خپرونو پیلېدلو او وروسته تلویزوني خپرونو رامنځ ته کېدلو کې لوی لاس درلود چې په لومړي ســــرکې یي افتخاري همکاري کــوله او وروسته یې له اته کلونو زیات په کونـړ رادیو تلویزون کې د حق الزحمه نطاق، ممثل او ژورنالست په ډول کاروکړ، چې د دوستانو مرکه طنزیه پرو ګرام یي ډیر مشهور و.

همدارنګه دکونړ غږ مجلې ، خوځښت مجلې کونړ اوونیزې او نورو خپرونو په رامنځ ته کــولو کې یي ډیره خواري کړې ده.

دکونړ سیند دودیزه مشاعره هم دشیرزمان صادق او نورو فرهنګي ستورو دهلو ځلو په پایله کې

رامنځ ته شوه ، هم دوي یی بنسټ کیښود او ترننه پورې هر کال په دودیز ډول لمنانځل کیږي.

ددی ترڅنګ شیرزمان صادق په نړۍ واله کچه دپښتو ژبې او ادب په برخه کې په لویوغونــډو او کنفرانسونو کې هم ګډون کړی دی چې په **2000**م کال کې د پیښورپه نشترهال کې دنړۍ وال پښتوعالمي کنفرانس مندوب و او په دغه کنفرانس کې یي دپښتنو دیوالي او پرمختګ په اړه خپل شعرونه او مقــالې وړاندې کړي دي ، په **1388** ل،ل کال کې د اطلاعات او کلتوروزارت لخوا په نړۍ واله کچه د سولې په اړه په جوړې شوې (دسولی ګډه مشاعره) کې یې

دکونړ استازیتوب کاوه چی له کوزې پښتونخوا او نورو هیوادونونه ورته لوی لوی شاعران او پوهان رابلل شوي وو.

دامریکاغږ،راډیو،ازادۍ راډیواو ډیوه پښتو راډیو کې یې د مبصر په توګه غږ ټولې نړۍ اوریدلی او له همدغه لارې یې د خپل ولس غږ او ستونزې ترچارواکو او نړۍ رسولي دي.

دکوزې پښتونخوا په وحدت ورځپانه،دحزب اسلامي په شهادت ورځپانه،دپاکستان خبرې ورځپانه مشرق ورځپانه، شغله مجله، شفق مجله، کونړمجله، کونړغږ مجله، خوځښت مجله، لوپټه مجله، ستوري مجله، کونړ اوونیزه، کونړ ځوانان اوونیزه او نورو زیاتو چاپي رسنیوکې یې اشعاراو مفاهیم خپاره شوي دی.

دشیرزمان صادق اثار:

شیرزمان صادق په نظم او نثردواړو کې لیکنې کوي چې تراوسه یې دوه شعري تولګي خاطرې په ۱۳۸۱ کال او دنګې څوکې یې په۱۳۸۲ کال کې چاپ شوي دي او د نثرپه برخه کې یې سوندړا چاپ شوی اثر دی یوه شعري ټولګه او دوه نثري ټولګې چې یویې عسکري کتاب دی او بل یې (زموږ کیسې او پرلپسې داستانونه) ترسرلیک لاندې د کیسو یوه ټولګه ده چې چاپ ته اماده دي خو چاپ شوي نه دي.

دشاعرۍ پیل:

شیرزمان صادق له وړکتوب نه دخپل زیرکتیا او هوښیارتوب له امله دژوند لوړو ژورو ، خوالو ناخوالو او ښو بدو ته ښه زیر و له همدې امله یې نېکۍ او بدۍ په اسانۍ له یوبل سره بېلول او دنېکیو او بدیو د دغه بېلولو لپاره یې دشعر ژبه خپله کړه چې دځوانۍ له پیله یې دشعر په ویلو پیل وکړ ، دنوموړي دلومړي شعرپه اړه معلومات لاس ته رانغلل خوډیره جالبه داده چې نوموړي درسمي ماموریت اخستلو له پاره غوښتنلیک (عریضه) په شعرلیکلې وه او له دې نه ډیره جالبه داده چې د اړونده

اداري مشر (رئيس) احکام هم په شعر ورکړي و چې هغه په خپله هم شاعر و ، دلته يې دبېلګې په ډول دواړه ذکر کوو.

کيسه داسې وه چې دزراعت ( ځنګلاتو ) په برخه کې استخدام کېده چې صادق صيب هم غوښتل ماموريت وکړي نو داسې عريضه ( غوښتنليک ) يې دشعر په ژبه ليکلی و.

## د صادق صاحب د شعر نمونه

شيرزمان صادق يم محافظ دځنګلونو

وظيفه مې اجراکړې په امـــــــرونو

نن ده تيرکال قراداد می شو پـــوره

بېـــــــرته غواړم محافظ شم دوباره

ځکه ډيريمه عاجزه بې زمـــــــينه

وظـــــــــيفه اجراکووم په شوق مينه

که له تاسو راسره لطـــف څه وشي

چې اقدام دتقـــــــرر مي پکې وشي

په درنــــــــاوي قلم اوښکې تويوي

هغه غواړي چي قانون يې ايجابوي

شيرزمان صادق

احکام:

عارضه!

ماهم ستاعريضه وړاندې کړه رياست ته

بالخصوص دځنـــــګلـونو مديريت ته

چې شي نوی قراداد او مقـــــــرر شې

بېرته جوړشې نوي کال کې دې خدمت ته

په ځنګلونوبه ګردش او راستکاري کړې

چې حيران کړې نورکارګر خپل فعاليت ته

عبـــدالغفار کوتوال مدير عموميځنګلات

۵/ - ۱۴۰۰/۱۲

## قطرې

په سپين مخ د صنم خورمه د سهارشوه

زما مينه سره وريته په سره انګار شوه

دا زما د زړه هغه وړې قطرې دي

چې ترې ځاځکی ځاځکی وينه وارپه وارشوه

خود به سوزي عاشقان د عشق په اور کې

بله شمعه د پتنګ په انتظار شوه

عشق صادقه لېونتوب نه دی نو څه دي

چې ککره د منصورپه کې په دار شوه

# (ددشت لیلې 8500شهیدان)

**لیکنه او راټولونه: اسرایل غیرت**

په(1997)کې په دې کربلا ډوله دشته کې اته زره پنځه سوه پښتانه طا ېبانۍ ددوستمېنو لخوا په بې رحمانه او زړه بوږنونکې ډول په شهادت ورسېدل او اکثره په دغه دشته کې ژوندې دخاورو لاندې ښخ شوېدی عېنې شاهېدان واېې ددغه شهېدانو دشهادت دځاې نه دالله اکبر چغې اورېدل کېږې دغه دشته کې (12)لوې لوې دخاورو غونډۍ په ېو څه فاصله په داېرو شکل پرتې دې دغه دولس غونډۍ دشهېدانو ځلې دې دوستمېانو دغه طالبېان چې مخکې په قعله جنگې کې بندېان وه په داسی حال کې چې لا سونه ېې ترشا تړلې وه دغه دشت لېلې ته په دولس کانټېنرونو کې راوړل شو هر کنتېنر په ېو څه فاصله خالې کېده او شهېدان به په شهادت رسول کېده ځېنې خلک داهم واېې چې دغه کانټېنرونه په مرمېو سورې سورې ووه او وېنې ترې بهېدلې په هر صورت خو دغه دشته کې دشهېدانو دولس دخاورو غونډۍ دې نو دچارواکو څخه مو هېله داده چې په دغه هره غونډۍ په اساسې ډول ېو ېو ځلې جوړکړې

(2)ددغه دولس ځلو څخه دې گرد چاپېره په اساسې ډول ېو دېوال را چا پېر کړې تر څو ددغه شهېدانو ځلې دځناورو او حېواناتو نه محفوظ شې

(3)داوبو ېو ټوېل ورته جوړشې ځکه دا شهېدان په ېو ډېره لرې دشته کې پراته دې او هلته اووبه نشته

(4)په دغه ساحه کې باېد زېنتې بوټې نال شې

(5)دغلته باېد ېو ېادگارې دېوال جوړ شې او دټولو شهېدانو نومونه او دپلار نومونه پرې باېد ولېکل شې

(6)هرکال باېد ددغه شهېدانو په ېاد لمانځ غونډې ونېول شې

(7)ددغه شهېدانو قاتلېن او عاملېن بخل ددغه شهېدانو دوېنو سره خېانت او جفاده

لیکنه: محمد اسماعیل سهار

# د شپې وروستۍ برخه

سپین ږیری پورته شو او له کوره ووت. دی د سهار لمانځه ته روان دی، مسجد ته ننوتو سره سم پرې چا د توري ګوزار وکړ خو دی بچ شو او د دروازې درشل ولګېده، ده چې ځان تر څو جوړوه بل تن پرې ګوزار وکړاو په توره یې په سر وواهه، ګوزار کوونکو منډه کړه. سپین ږیري په لوړ غږ خلکو ته د سړي د نیولو امر وکړ. شېبه وروسته سړی ونیول شو او د سپین ږیري مخ ته کښېنول شو، سپین ږیری که څه هم سخت ټپي وو خو خبرې یې کولای شوې، سړي ته یې وکتل او بیا یې په ډېره نرمه لهجه ورڅخه وپوښتل: ولې دې زما د وژلو اراده کړې وه؟ ما څه بد در رسولي؟

سړي د ځواب پر ځای ورته ووېل: په کومې تورې مې چې وهلی یې دا مې څلوېښت ورځې تېره کړې او څلوېښت ورځې مې په زهرو کې لړلې ده، په خدای سوګند ته ژوندی نه شې پاتې کیدای....

دلته سپین ږیري ته کلونه وړاندې خبره وریاده شوه، ده ته یو تن ویلي وو چې ته به د یو تن له خوا په فلاني ځای وهل کیږې او له همدې ټپ څخه به وفات کیږې. ده چې خپل ټپ ته وکتل کټ مټ هماغه ځای وو کوم چې ده ته کلونه وړاندې هغه تن ښودلی وو.

سپین ږیري امر وکړ چې دا تن بندي کړئ، که چېرته زه روغ شوم نو د اسلامي شریعت سره سم به دی هم صرف ټپي کړو او که زه وفات شوم نو دی هم قصاصا ووژنئ خو پام چې مثله(د بدن غړو غوڅول) یې نه کړئ او نور زیاتی ورسره ونه کړئ.د سپین ږیري لور په ژړغوني غږ سړي ته ووېل: زما پلار به روغ شي او خدای به تا ذلیل او رسوا کړي. سړي وخندل او سپین ږیري ته کړې خپله خبره یې تکرار کړه چې توره یې په زهرو لړلې ده او سپین ږیری رغېدونکی نه دی.رېښتیا هم همداسې وشول، سپین ږیری تقریبا څلور ورځې له ټپ څخه رنځېده، څلورمه شپه یې خپل روح خالق ته وسپاره او په دې سره د اسلامي نړۍ یو ستره هستي له دې نړۍ تېره شوه.

سپین ږیری علي رضي الله عنه، ګوزار کوونکی عبدالرحمن بن ملجم او علي رضي الله عنه ته کلونه وړاندې وړاندوېنه کوونکی محمد صلی الله علیه وسلم وو.

ليکنه: انجينر عمران شريفي

# تاته به ستا د برېا لار ترسترګو شي!!

دا د يوه خره کيسه ده چې د يوې ليرې پرتې سيمې په يوه وړوکي کلي کې اوسېده ـ د کلي چارچاپېر يو ډېر لوی او ګڼ ځنګل و،د کلي خلک ډېر غريب او وروسته پاتې وو،يوازې همدومره پوهېدل چې له دې ځنګل هاخوا يو لوی ښار دی؛ خو هيچا ته هلته د رسېدو لار نه معلومېده، هيچا له ځنګل نه د وتو او ښار ته د تلو زړه نه شو کولی.

يوه ورځ د خره په زړه کې تېر شول چې پخپله ولې د ځنګل له لارې ښار ته د تلو کوشش نه کوي ـ بله ورځ سهار وخته پورته شو د ځنګل په لور رهي شو ځنګل تپ ګڼ و، لارې يې هم لوړې ژورې او سختې وې ـ د خپلې اندازې له مخې يې يو لوری ونيو ـ لږه شيبه وروسته به ودرېد په فکر کې به شو او کوم طرف چې به يې زړه ومانه په همغه طرف به روان شو ـ

د خر قسمت ښه و چې په يوې او بلې خوا تلو بالآخر له ځنګل نه په وتو بريالی شو او ښار ته ورسېد ـ سم له واره دا خبر په ټول کلي کې خور شو چې خر تر ښار پورې لار لټولې ده،خلکو خر ښکمرغه ګاڼه او همت يې ستايه ـ خلکو به ويل چې خر څومره بختور دی چې په ښار کې به اوس د مزو ژوند تېروي ـ د سپيو يوې ډلې هم دا ټولې خبرې واورېدې ويل دوی هم بايد د ښار لار ولټوي او هلته د ارام ژوند وکړي هماغه وو چې سپي هم ځنګل ته روان شول ـ دا چې د سپيو د بوی کولو حس ډېر توند وي؛ نو ژر ژر يې په بوی کېدو ـ بوی کېدو معلومه کړه چې خر په کومه ـ کومه لار تېر شوی دی ـ په هماغه لار دوی هم ښار ته په رسېدو بريالي شول ـ دلته په کلي کې يو ځل بيا د سپيو يادونه په خوله ـ خوله شوه اوس نو په کلي کې يو ډول ضد او سيالۍ لار غوره کړه ـ د کلي نور ژوي هم د ښښو ښښانو په مرسته په دې لار تلو سره ښار ته ورسېدل ـ دا لار د بيا بيا کارولو له امله يو ډول مشهوره شوې وه، اوس نو انسانانو هم د دغې لارې په کارولو سره له ځنګل نه په وتو ښار ته تګ راتګ پيل کړی و ـ وخت همداسې تيرېده د کلي حالات بدل شول د ښار انتظاميې ته هم معلومه شوه چې د ځنګل هاخوا يو ډېر ښکلی کلی دی ـ هغوی له ښار نه تر کلي پورې د يوه سرک جوړولو پرېکړه وکړه ـ يوه تعميراتي شرکت خپل يو د انجينرۍ ټيم دې کلي ته ولېږه چې د سرک جوړونې لپاره سروې وکړي.

د کلي سردار چې کله خبر شو؛ نو ټیم یې راوغوښت او ورته ویې ویل چې له کلي نه ښار ته د تلو لپاره یوه لویه ښه سمه لار شته دی زموږ نظر دا دی چې د کلي خلک د ځنګل کومه لار کاروي او ښار ته ځي په همغه لار دې سرک جوړ کړل شي په دې توګه به د کلي خلکو لپاره هم آساني شي او تاسې به هم د بلې لار لټولو له زحمت خلاص شئ.

د کلي د سردار خبرو په اورېدو د ټیم مشر مسکی شو ویل دا لار چا جوړه کړې !

سردار ویل د خپلو معلوماتو له مخې دا لار یوه خره لټولې وه او بیا یې ټوله کیسه ورته وکړه.

د ټیم مشر اینجینر وویل چې زه د دې خبرې په اورېدو هیڅ حیران نه شوم چې لار یوه خره ایستلې ـ حیران په دې یم چې تاسې په انسان کېدو سربېره دومره موده د خره په لار ولې تلئ ځکه چې د خره لاره ډېره اوږده او سخته ده ـ موږ یوه داسې لار پیدا کړې چې بیخي سمه دمه او ډېره لنډه ده تاسې به په دې لار تلو سره ډېر ژر له ځنګل نه په تیرېدو ښار ته رسېږئ ـ

د کلي خلک شرمنده او خجالته وو چې ولې دومره موده د خره په لاره تلل او ولې یې د خپلې لار لټونې کوشش نه دی کړی.

په هرحال! د دې کیسې په لوستو له تاسې پوښتم چې هسې نه تاسې خو به کله د کوم خره په لار تلنې غلطي نه وي کړې!

په موږ کې هم ډېر خلک د کلي د خلکو په څېر ژوند د نورو په لار تېروي او دا فکر کوي چې همدا د بریا لار ده همدا به یې منزل ته رسوي ځکه چې ډېر خلک په دغه لار تلو سره منزل ته رسېدلي دي چې ګوندې همدا د بریا لار ده.

هغوی به کله هم په دغه لار کوم شکایت نه کوي کله به هم د کومې نوې لارې د، لټونې هڅه نه کوي ـ کله به هم دا فکر نه کوي چې کیدی شي دا د خره لار وي بس یوازې به روان اوسي او د چا خبره لار لنډوي.
دوستانو، منزل ته د رسېدو لپاره ډېرې لارې وي تاسې کومه یوه ټاکئ اختیار یې باید ستاسې په لاس کې وي او د لارې له ټاکلو مخکې دا ډاډ خامخا وکړئ چې دا خو د کوم خره لار نه ده---

په ژوند کې هره ورځ نوي څه زده کړئ، نوی فکر وکړئ.



د مقالې ترتیب کوونکی: معاذ( سیرت)

# د ښه زده کوونکي صفات

۱ -ښه زده کوونکی هغه دی چې خپل عبادت، مطالعه، کار، تفریح او ورزش په خپل وخت سره کوي.

۲ -ښه زده کوونکی هغه دی چې ځانګړی هدف لري او د رسېدلو لپاره ورته پلان جوړوي او عمل پرې کوي.

۳ -ښه زده کوونکی هغه دی چې د خپلو والدینو، مشرانو، استاذانو، ملګرو، ټولګیوالو او عامو انسانانو احترام کوي.

۴ -ښه زده کوونکی هغه دی چې د خپل اسلام، هېواد، ښوونکي، کتاب، قلم او ښوونځي سره مینه لري.

۵ -ښه زده کوونکی هغه دی چې له غلطیو څخه په جدي ډول ځان ساتي؛ که احیاناً کومه اشتباه ورڅخه وشي هغه مني، یو ځه ورڅخه زده کوي او بیا یې نه تکراروي .

٦ -ښه زدکوونکی هغه دی چې تقوا دار، هڅاند، هوښیار او د کورنۍ له غړو سره د کور په کارونو کې مرسته کوونکی وي.

۷ -ښه زده کوونکی هغه دی چې له درواغو، تهمت، غیبت، حسد، کینې، مخالفت، دښمنۍ، تعصب، فساد، خیانت، غلا، رشوت، ښکنځلو، بې احترامۍ، منافقت، کبر، بد اخلاقۍ، دوکې، حرامو، لټۍ، نقل او اسراف څخه ځان ساتي.

۸ -ښه زده کوونکی هغه دی چې همېشه نورو خلکو ته د نیکو کارونو امر او له بدو کارونو څخه یې منع کوي

۹ -ښه زده کوونکی هغه دی چې خپل ښوونځی د خپل کور په شان ګڼي، د هغې په ساتلو، پاکولو، جوړولو او ښایسته کولو کې پوره کوښښ کوي او ونډه اخلي.

۱۰ -ښه زده کوونکی هغه دی چې د نیکو مشرانو لارښوونې، نصیحتونه، مشورې، نظرونه او ویناوې اوري، لولي او عمل پرې کوي. مونږ او تاسې هم پکار ده چې ذکر شوي صفات په خپلو ځانونو کې پیداکړو، تر څو د بریا او کامیابۍ تر لوړو پوړیو ورسېږو .

# دمور مقام!!



ليکوال :قاری حکمت الله عادل د خيبر افغانستان خصوصي لېسې اسلامياتو استاد

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على أشرف الأ نبياء والمرسلين و على آله و أصحابه أجمعين أما بعد:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ ، بسم الله الرحمن الرحيم.

قال الله عزوجل "

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۚ سورة احقاف۱۵

ژباړه:

مور، انسان ته، د خپل مور او پلار سره په غوره سلوك كولو هدايت كړيدی. د هغه مور كړاو وګاله، هغه يې په ګېډه كې وساته او د كړاو په ګاللو سره يې هغه وزېږاوه او د هغه په حمل او تي وركولو كې يې دېرش مياشتې ولګېدلې .

و عن أبى هريرة رضى الله عنه قالَ جَاءَ رَجلٌ إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم " فقالَ يارسول الله مَنْ احقُّ النَّاسِ بحُسنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ أُمُّك قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَال ثُمَّ أُمُّك قال ثُمَّ مَنْ؟ قال ثُمَّ أُمُّك قال ثُمَّ مَنْ؟ قال ثُمَّ أَبُوك. متفق عليه.

ترجمه: له ابو هريرة رض څخه روايت دی چې يو سړی نبي كريم صلى الله عليه ته راغی او عرض يې وكړ: پر ماباندې څوك دزيات خدمت حقدار دی؟ نبي ص ورته وفرمايل: ستا مور. بيا هغه سړي پوښتنه وكړه: بيا څوک؟ نبي ص وفرمايل: ستا مور. بيا هغه پوښتنه وكړه: بيا څوک؟ نبي ص وفرمايل: ستا مور. هغه سړي پوښتنه وكړه بيا څوک؟ نبي ص وفرمايل : بيا ستا پلار.

درنو لوستونكو دایاتونو اواحاديثو څخه معلوميږي، چې مور او پلار په اسلام كې لوړ مقام لري؛ ځكه چېرته چې الله ج خپل حكم راوړی، نو يو ځای يې ورسره دمور اوپلار سره احسان ذكر كړيدی، نو مونږ اوتاسې بايد دمور او پلار قدر وكړو ، خدمت يې وكړو او دُعا ورڅخه واخلو او كه چېرې دڅا دغه درحمت سيوري( موراوپلار) وفات شوي يې؛ نو دهغوی دملګروسره دې ښه سلوك وكړی.

مـــــور څه شی دی؟ !

۱ ـ سمندر وايي: مـورهغه هستي ده ، چې داولاد په سلګونو زره رازونه په سينه كې پټ ساتي.

۲ ـ وريځې وايي: مـــور هغه هينداره ده ، چې هررنګ پكې له ورايه ښكاري.

۳ ـ غرونه وايي: دمـــور درناوی زما له څوكوڅخه هم ډېر لوړ دی.

۴ ـ زمانه وايي: دمـــور مينه زما له ځغل څخه هم تېزه ده.

۵ ـ ليكوال وايي: مـــور هغه هستي ده چې دستاينې لپاره يې په نړۍ كې الفاظ نه موندل كېږي.

٦ ـ دُعا وايي: مـــور هغه شخصيت دی ، چې داولاد دخوښۍ لپاره ما غواړي.

۷ ـ جنت وايي: مـــور هغه هستي ده چې زه يې هم تر پښو لاندې يم.

۸ ـ ځمكه وايي: زما قيمت خو به څوك پوره كړي خو دمـــور قيمت هېڅوك نشي پوركولای.

۹ ـ زه وايم: ماته دمـــور او ګل ترمنځ توپير نه تر سترګو كېږي.

۱۰ -مور درحمت ځلی، دهېلو چينه، دژوند تكيه، دمينې تلوسه اودسكون وږمه ده.

دمــــــور په بـــاره كې دعـــلـــمـــاؤ نظرونه:

۱ ـ جنت دمـــور دقدمونو لاندې دی.( حضرت محمد ص)

۲ ـ مـــــور نړۍ جوړونكې ده.( لودويك ون بتهون)

۳ ـ له مـــــور نه بل هيڅ ښه نعمت نشته .( سيمو نيد)

۴ ـ دمـــــور سره مينه دخدای ج سر ه مينه ده.(حسين رحمت نژاد)

۵ ـ يوازې هغه ښځه چې بې ازاره ده، هغه مـــــور ده.( محمد عجازی)

٦ ـ ښه مـــــور له سلو استاذانواوښوونكو غوره ده .( ژرژهرپرت)

۷ ـ څوك چې دخپلو خدمتونو په مقابل كې دمننې تمه نه لري، هغه مـــــور ده.( فرانسوی لاوازيه)

۸ ـ كه دمـــــور روزنه نه وي، ټولنه به بې تربيه شي.( حسين رحمت نژاد)

۹ ـ مـــــور له ټولو خواخوږو ډېره خوږه ده.( دافونزيو)

۱۰ ـ يوازې دمـــور مينه ده ،چې تلپاتې او حقيقي ده.

په اخير كې د ټولو لوستونكو او اولادونو هيله او غوښتنه كوم، چې د مور اوپلار قدر او احترام وكړئ، مينه وركړئ، دعا ګانې ترې واخلئ او په ښو او ښكلو نومونو ورته اوازونه وكړئ، تر څو دنيا او اخرت دواړه مو ښايسته شي.

# په شعر کې د سېمبول نوښتونه

پوهنمل محمدرحمن رحماني

پېژندنه

سېمبولونه په معاصره بڼه هغه وخت وپېژندل شو،چې زموږ یو شمېر ادب څېړونکي د لوديځو ادبياتو سره اشنا شو، په هنري لیکنو او شاعرۍ کې د سېمبول کارونه پخوانۍ ده، خو په دې اړه لیکنې ډېرې وروسته شوي دي، د سېمبول په اړه ځینو لیکوالو علمي او څېړنیزې لیکنې کړې دي.

د سېمبول لغوي معنا قاموسونو:علامه،نخښه،رمز او اشاره ښودلې او په اصطلاح کې هغه څه چې د یو شي پرځای کاربېږي یا د یو شي استازیتوب کوي. لکه کوتره چې د سولې لپاره سېمبول بلل شوې ده.

سېمبول په بېلا بېلو علومو کې ځانته پېژندنه لري،خو دلته په ځانګړې توګه هنري او شعري سېمبول تعریفوو:

ادبي دایرة المعارف: سېمبول د نښې یا علامت په معنا او په ادبي اصطلاح کې هغه سبک ته ویل کېږي،چې هر څوك په هغه کې یو څه ویني. پوهاند مجاور احمد زیار: سېمبول(symbol) یا سېمبل چې عربي انډول یې (علامت) ،دري (نماد) او پښتو (پیلام) دي، په ټولیز ډول هغه څیز یا پدیده ده،چې له ځانه پرته د یو بل څیز څرګندوی وي. په شعر او ادب کې هغه ویې دی،چې د آرې او ټاکلې معنا پر ځای یوه بله معنا راخپله کړې وي. لکه په اوسني شعر کې د (لمر) څخه د ازادۍ معنا اخیستل کېږي. [i]

ځینو قاموسونو کې سېمبول هغه څه چې د یو بل شي ځای ناستی شوی وي. یا هغه څه چې یو بل شی د قیاس او تداعي له لارې څرګند کړي.

د خوشحال بابا دا بیت د سېمبول پېژندنې لپاره تر ټولو څرګنده بېلګه ده.

چې دستار تړي هزار دي د دستار سړي په شمار دي[ii]

په دې بیت کې دستار یو سېمبول دی او مراد ورڅخه یو اجتماعي ایډیال شخصیت دی،چې په ټولو صفاتو او مهارتونو برابر وي.

سېمبول تر هرڅه زیات استعارې ته نږدې دی،خو ترمنځ یې د بېلتون او توپیر کرښه هم راښکل شوې او هغه دا چې په استعاره کې د قرینې شتون د اوریدونکي یا لوستونکي ذهن یوازې یو مفهوم ته اړوي،حال دا چې د سېمبول مجازي معنا په کلي ډول د قرینې د نشتوالي له کبله یو مفهوم ته نږدې نه پاتې کېږي.

د مشهور سکاټلېنډي عالم توماس کارلایل( ۱۷۹۵ـ ۱۱۸۱م) په وینا: په سېمبول کې نامحدود مفهوم له محدودو عناصرو سره ګډېږي،څو هغه د لیدنې او لاسرسي وړ وګرځي.له دې ټولو سره سره سېمبول پرته له دې چې څه مفاهیم څه ډول وړاندې کوي او بې له دې چې نغښتي مفاهیم یې په دقیقه توګه وپېژندل شي،خپل ځانګړی لوړ معنوي ارزښت لري،چې هغوی ته په کتنه په هنري ادبیاتو کې د سېمبولیزم ادبي مکتب رامنځ ته شو. سېمبولیزم

چې د نولسمې پیړۍ په پای کې د ریالیزم او ناتوریالیزم ادبي مکتبونو پر خلاف په فرانسه کې د نومیالي شاعر شارل لودلر په مشرۍ منځ ته راغی. ده اعلان وکړ چې په شعر کې هېڅ ډول قید و بند نه مني،باید د وزن او قافیې له قید نه ازاد،ساده،روان، ښکلی او اهنګ وال وي، خو دا لازمه نه ده چې د ټولنې د ټولو طبقو لپاره دې وړاندې شي. ددې مکتب پلویانو په شعر کې عجیبه او نا اشنا مسایل مطرح کول،مسایلو ته یې داسې رمزي بڼه ورکوله چې د ټولنې هر وګړی پرې نه پوهیده.[iii]

د سېمبولونو ډولونه

سېمبولونه د نوښت له نظره دوه ډوله دي.

۱ـ قراردادي سېمبولونه: هغه دي چې پخوا کارول شوي دي او اوسني شاعران یې بیا په نوي شاعرانه موقعیت کې کاروي، یا:قراردادي سېمبولونه چې د عمومي سېمبولونو په توګه یې ټول مني.دا ډول سېمبولونه پخوانیو خلکو جوړ کړي او د پېړیو په اوږدو کې زموږ د فرهنګ،شعر او تمدن برخه ګرځېدلې ده.

د درویش دراني په دې بیت کې یې ګورو:

په کومه خوله به دعوه کاندې چې فایده دې راوړه      لمر دې له ځانه سره وړی و او شپه دې راوړه

لمر او شپه هغه قراردادي سېمبولونه دي چې لمر له پخوا څخه د ورځې،رڼا،نېکمرغی،خپلواکی،ښېګڼې او ښه حالت لپاره سېمبول دی او شپه برعکس ده.

۲ـ فردي یا ابتکاري سېمبولونه: چې ځانګړي سېمبولونه هم ورته وایي، هغه سېمبولونه دي چې د یو شاعر له خوا لومړي ځل لپاره کارول کېږي، چې پرې د پوهېدلو په موخه شاعر هڅه کوي وړ قرینې هم راولي.

ابتکاري سېمبولونه په لومړي ځل کارولو یو څه ابهام له ځانه سره لري. چې کشفول یې یو بل هنري کیفیت ته اړتیا لري.

د ارواښاد ننګیال په (بیدیا) شعر کې یو څو فردي سېمبولونه:

سپېره بیدیا ده په کې پل د بنیادم نشته      یوڅو پېریان دي له پردیو غرو راغلي

بربنډېري ناځي ناځي،    چې تیاره شي بیا سینې پر خپلو میندو سروي،    پرخوارډه خوب پریوځي

دا شعر د بېلا بېلو ځانګړو سېمبولونو لرونکی دی، په سپیره بیدیا کې د بنیادم د پل نشتوالی،پیریان ،پردي غرونه، بربنډه نڅا، تر سینو سرلو وروسته خوږ خوب، د زهرو ونه او نور فردي سېمبولونه دي. ننګیال غوښتل د خپل چاپیریال یوه پېښه تمثیل کړي. له پردیو غرونو څخه د پیریانو راتلل یو سیاسي سېمبول ګڼلی شو، (د بنیادم له پلونو تشه سپیره بیدیا) هم یو ځانګړی سېمبول دی.

د منځپانګې له مخې سېمبولونه لاندې ډولونه لري:

۱ـ حماسي سېمبولونه: حماسه او حماسي ادب دوه بېل مفاهیم دي د حماسې په باب د سرمحقق زلمي هېوادمل په یوه لیکنه کې: حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی،چې د یو ملت،قوم،قبیلې او یا

شخص مېړانې او جنګي کارنامې په حکايتي ډول وړاندې کوي. ډېر کله په شعرونو کې يوې حماسې ته د سېمبول په بڼه اشاره کېږي. لکه خوشحال بابا وايي:

شور او شر به د (رانجا) په جهان نه و         که د(هېر) صورت پيدا نه واى په شور کې

که خبر د (درخانۍ) له مخه نه واى         (ادم خان) به ځنې څه غوښتل په کور کې

دلته خوشحال بابا دوه عشقي حماسو ته اشاره کوي او د هېرو رانجا او ادم خان و درخانۍ په سېمبوليکه بڼه دواړه افسانې زموږ ياد ته ودروي.

۲ـ عرفاني سېمبولونه: عرفان د پېژندنې له ريښې څخه اخيستل شوى دى او په اصطلاح کې د خداى پېژندنې لپاره د انسان معنوي او روحي هڅه ده. عرفاني ادبيات د نظم او نثر هغه مجموعه ده،چې عرفاني افکار اوتمايلات په کې په هنري ژبه بيان شوي وي.د پښتو ادبياتو په تاريخ کې يوه لويه برخه عرفاني اوصوفيانه ادبيات دي،چې په منځنۍ او نويو دورو کې د پام وړ دي.

دا چې په عرفاني ادبياتو کې سېمبولونه ډېر په زړه پورې او د پام وړ دي،دليل يې دا دى چې صوفيانو به د خپلو زړونو ټولې خبرې مخامخ او ځرګندې نه شوې ويلى، دوى مجازي نړۍ د حقيقي نړۍ د تمثيل لپاره جوړوله،کله به يې مجازي معشوقه يادوله،خو مراد به ورڅخه حقيقي محبوب و، معشوقه، شراب، ساقي، زاهد، ميخانه، وصال، هجران او نورو سېمبولونو به د رمز په ژبه د دوى فکرونه ښکاره کول. د روښاني مکتب پلوي شاعرانو لويه برخه عرفاني شاعري کړې ده،تر څنګ يې رحمان بابا او نور شاعران شته چې ګڼ عرفاني سېمبونه يې په شعرونو کې موندلى شو.

د رحمن بابا دې غزل کې څو عرفاني سېمبولونه

د جنت تر حورو تېر شه که يار غواړې         خداى دې نقده د چا نه کاندي نسيا

د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه         چې دې غوځ کړي له زړه خيرې د ريا

۳ـ لېريک او ښکلاييز سېمبولونه: په غنايي او تغزلي سېمبولونو کې مهمه دا ده، چې يو سېمبول اوريدونکي يا لوستونکي ته د يو ښکلي انځور بشپړ تصور تداعي کړاى شي. د بېلګې په توګه په اساطيري او حماسي سېمبولونو کې له يوې ټاکلې پېښې يا کيسې سره مخامخ يو،چې په دويم ځل ذهن ته لنډ تمثيل وړاندې کړي.خو په ښکلاييزو سېمبولونو کې  د ښکلا خوښونې له يوې نوې تجربې سره سړى مخامخېږي.

په کلاسيکو شاعرانو کې بيا هم خوشحال بابا د ښکلاييزو او تغزلي سېمبولونو يو لوى هستونکى دى:

که د يار پسې څوک سپينې جامې رنګ کا         اواره دې د نيمګړې دنيا ننګ کا

شپه او ورځ دې پسې ژاړي يار دې غواړي         که مين وي په رښتيا ځان دې ملنګ کا

واشنا وته د يار مينه ځرګنده         لکه قصد چې له ډيوې سره پتنګ کا

دا د غم کښتۍ چې ګرځي په درياب کې         يوه ورځ به يې ذرې ذرې نهنګ کا

ښايسته بلا دې وليده خوشحاله    اوس که زړه منع کوې سترګې دې جنګ کا

(سپينې جامې رنګول،ملنګ،قصد کول،د غم کښتي، درياب،نهنګ،ښايسته بلا،د سترګوجنګ اونور) سېمبولونه دي.

په پښتو شاعرۍ کې د سېمبول ايجاد: د پښتو د شاعرۍ له پيل څخه چې زموږ لاس کې يې کومې بېلګې دي، له لومړي تر لاسه شوي شعر څخه چې داميرکروړ وياړنه ده، په سبمول پيلېږي. زه يم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته. زمری د مېړانې، زړه ورتيا او ځواک يو ښه سمبول دی.

په ولسي شاعرۍ کې لنډۍ تر ټولو غوره سېمبوليک فورم دی، په لنډيو کې د ګودر، منګي، شمله، ټيکرى، پيغلتوب، موزيګي،چنار، د ګلوڅانګه او نور کارول شوي دي:

ګوره چې وار دې خطا نه شي    د ګلو څانګه دې په سر ولاړه يمه

په کلاسيکه شاعرۍ کې خوشحال بابا،کاظم خان شيدا او حميد هغه شاعران دي،چې د کلاسيک سمبولستان يې بولي،له دوی وروسته رحمن بابا، دولت لوانی او د روښاني غورځنګ نور متصوف شاعران د ګڼو سېمبولونو کاروونکي دي.

په اوسني پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو کارونې نوې څپه هغه مهال له ورايه راڅرګنده شوه،چې پښتنو شاعرانو د نړۍ د نويو ادبياتو سره اړيکه  پيدا کړه.

پښتو شعر ته د سېمبول له نوې زمانې څخه يې که راپيل کړو، نو د افغانستان په ادبي حوزه کې استاد بېنوا، استاد الفت، سليمان لايق، بها الدين مجروح او نور نيو کلاسيکان يې پيلوونکي دي اوپه پښتونخوا کې بيا دا لومړيتوب د غني خان او اميرحمزه شينواري نومونو ته ورسېږي.

يادو شاعرانو د خپل مهال په داسې يو هنري، سياسي او ټولنيز پير کې شاعري کوله، چې د ښکلا او هنر ترڅنګ يې په شاعرۍ کې تعهد او ژمنتيا هم پاللــــه، له غني خان پرته نورو يادو شاعرانو ډېرځله سېمبولونو ته د نامخامخ ارائيې لپاره پناه وړله. د بېلګې په توګه نامتو ريفورميست اروانباد الفت د خپلو خبرو د رسولو لپاره له سېمبولونو څخه مرسته اخېسته، استاد روهي د هغه د يو شعرپه اړه ليکي:

« په پښتو ادبياتو کې هم (غني) او (الفت) کله کله خوبونه ويني، د الفت (زما خوب) د پښتو شعر مشهور شاهکار دی. په دې خوب کې شاعر د خپل وخت پر استبداد، استثمار او فجايعو باندې رڼا اچوي او داسې وړاندوينه کوي، چې د ظالمانو ماڼۍ به نسکورې شي او د عدالت لمر به راوخيژي.

دادی (زما خوب) څخه يو څو بيتونه:

اوربل يې ما په خوب کې پريشان ليدلی دی    ستا بخت خو مې رقيبه دغه شان ليدلی دی
د ګلو هار په غاړه محبوبا شوه را حضوره    بلبله دا وطن مې ګلستان ليدلی دی
کارغان به په کې نه وي بلبلان به په کې وي    باغونه به سمسور وي ما باغبان ليدلی دی

تعبير يې کړی ما په ظالمانو به چپه شي — چپه کاکل مې خوب کې د جانان ليدلی دی
مهار به دې په بوزه شي د سرو زرو خاونده — د سرو شونډو د پاسه ما پيزوان ليدلی دی
زه پټې سترګې نه يمه په هرڅه اوس پوهېږم — په خلاصو سترګو باندې ما جهان ليدلی دی

د استاد روهي په وينا چې استاد الفت په دې شعر کې پر استبداد، استثمار او فجايعو باندې غږيږي. مګر په شعر کې دا يوهم نه دي ياد شوي. استاد الفت د استثمار، استبداد او فجايعو نوم نه دی اخېستی،بلکې هغه اوربل، رقيب، د ګلو هار، بلبل، ګلستان، کارغان، چپه کاکل، باغبان، سرې شونډې، پيزوان، پټې سترګې او نور سېمبوليک مفاهيم ياد کړي دي.[iv]

نو استاد روهي ولې له دې شعره داسې تعبير کړی دی؟ دا ځکه چې استاد الفت د خپلو سېمبولونو،سېمبوليک کلام او هغو قرينو، چې په شعر کې شته همدغسې يو بېغام ارايه کوي. ځکه چې د شاعر په خوب کې سېمبولونه په ښکاره نارې وهي چې:

تعبير مې کړی ما په ظالمانو به چپه شي
چپه کاکل مې خوب کې د جانان ليدلی دی

ښاغلی عبدالغفور ليوال په (شعري سېمبولونه) کې ليکي:که استاد الفت په خپل شعر کې د استثمار په وړاندې شعار ور کړی وای، مثلاً ليکلي وای:

مړ دې وي استبداد — ژوندی دې وي عدل و داد
ضالمان به ټول نابود شي — زه يې وايم په فرياد

نو ايا استاد روهي به داسې شعر هم شاهکار ګڼلی وای؟ فکر نه کوم. استاد الفت د سېمبولونو په کارولو سره نه يوازې هنر پنځولی،ښکلا يې هسته کړې،د مينې، ښايست او بدلون خبرې يې هم کړي. د استاد روهي په څېر ځيرمن کره کتونکی يې دې ته اړ کړی، چې د هغه شعر شاهکار وګڼي او داسې شعر رامنځته کړي، چې زه او ته يې نن هم له لوستلو خوند و پند واخلو.[v]

د پښتو ادب په معاصره دوره کې د ناقراردادي، نويو او ابتکاري سېمبولونو کارول د شلمې پيړۍ له دويمې نيمايي څخه راپه دې خوا ډېر دود شول،چې په پښتو ادب کې يې له سر لارو څخه يو هم استاد بېنوا دی.

د استاد بېنوا په ګڼو شعرونو کې د د نويو سېمبولونو بېلګې موندلی شو، چې دلته يې د هغه يو مشهور تمثيلي شعر را اخلو، چې د هماغه وخت او عصر په تاريخي بستر کې د يو ګېمانيز اثر په توګه د ډېرې ځېړنې او شننې وړ دی. دا شعر (د کلو رنځور) نومېږي او داسې پېلېږي:

د کلو رنځور
هاخوا، دې خوا
غځېدلي هسک دنګ غرونه، ښکلوي د اسمان شونډې

پر سرو يې تکې سپينې د سپينو واورو، او:
پټ په زړه کې يې لعلونه
.....
هو ددې غرو په لمنو د دښتونو په بستر کې،
يو ناروغ پروت له کلو کلو راهيسې،
مړ لا نه و، خو مړ ژواندی،پروت بې حاله او بې توانه
«خيرات خور» يې ناست و سرته،
«دمګر» وې ګونډې وهلې، د رنځور جيب ته يې کتله ناست يې پښو ته، او:
ژر ژر يې خوځولې پنډې شونډې
«خان» ښۍ خواته وه وهلي، خپله ډډه ورته پروت يو غټ چلم و
ناست «ملک» يې و کيڼ لور ته پرسيدلی خېټور
د هغه ناروغۍ دوی ته وه، اختر
«خيرات خور» ږيږې ته لاس کړ ويې واهه دا هسې شخوند،
د خيرات فکرونه بويه د رنځور حال دی بې خوند،
.....
د دې شعر اصلي کرکټر (رنځور) يو ګنمانيز سېمبوليک شخصيت دی.
رنځور افغانستان دی،رنځور زموږ ملت دی،رنځور هغه ولس دی، چې د تراژيدۍ او کوميډۍ ترمنځ زانګي او خان، ملک، دمګر او ميراث خور يې په رنځورو اوږو سپاره دي. د سېمبوليکو اثارو يوه ځانګړنه دا ده، چې له بېلابېلو سېمبولونه څخه له هر عصر او زمان سره سم،نوي نوي تعبيرونه ورڅخه اخيستل کيدای شي. دا ضرور نه ده چې خان او ملک دې د هماغه وخت خان او ملک وي، چې استاد بېنوا پيژندل. دا نومونه د هر زورور لپاره مناسب سېمبولونه دي،چې اوس هم ددې ملت اوږې نه دې سپکې شوي او رنځور اوس هم رنځور دی. موږ اوس هم د دمګرو د تزويرونو په جال کې راګېر يو او لا هم يو ځوان خوځون ته اړتيا لرو، چې را غبرګ کړي« غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنګ»
استاد بېنوا دا شعر لسيزې پخوا ليکلی دی، خو زموږ رنځور لا نه دی رغيدلی، عجيبه ده چې رنځور لا هم له هماغه رنځه رنځيږي، د بې خبرۍ له رنځه استاد بينوا د خپل رنځور سترګي،غوږونه، خوله او لاس تړلي بللي دي. يو چا ورتړلي دي، زورورو،مکارو، د تزوير او ريا خاوندانو، د دوستۍ په جامه کې دښمنانو، رنځور لاهم د زورور په يرغمل کې دی. فقط يرغمل نيونکي بدل شوي،يرغمل نه دی خلاص شوی، انقلابونه راغلل خو د ملک او خان پر ځای يو بل ډول زورور او بيا يو بل ډول، پردي او خپل هر چا رنځور لا پسې وتاړه، ويې زبېښه، ويې واهه،

زخمي يې کړ، خو رنځور خلاص نه شو. د عدالت، ديموکراسۍ، بشري حقونو، سمون، ويښتيا، روښانتيا او اوښتون غږ لاهم له لرې درو څخه راځي، دا د نړيوال کېدو بهير دی، خو د زلميو ازادي ښنونکو ،شعور ورکوونکو ډله لا هم نه ده را رسيدلې چې ووايي:
غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنګ
موږ لا د خپل رنځور سترګې ،غوږونه،خوله او لاسونه نه دي ور پرانستي،ويښتيا،روښانتيا او اوښتون ته لاهم د اب حيات غوندې اړتيا شته.
استاد بينوا د خپل شعر سېمبوليک جوړښت،تمثيلي زمينه او بستر داسې طرح کړی، چې هر سېمبول په کې په خپل هنري چاپېريال کې د بشپړ ذهني حرکت ځای لري. استاد د پښتو معاصر شعر له لومړنيو سيمبوليستو شاعرانو څخه دی.په تغزلي شعرونو کې د مجردو سيمبولونو کاروونکو ته په معاصر مفهوم سېمبوليست شاعران نه شو ويلای.
سيمبوليست شاعران هغه دي چې په خپلو شعرونو کې يوه سيمبوليکه پروسه د تصويرونو په مرسته داسې بشپړه کړې، چې لوستونکی د خپل فکر په مرسته د ټولو کلماتو او انځورونو تر شا پراته مفاهيم درک کړي او له دې استدراکي پروسې څخه يې هنري تنده خړوبه شي.
د کلو رنځور همداسې يو شعر دی، په ښکلې انځوريزه وينا پيل شوی دی،بيا وروسته په غير مستقيمه بڼه د سېمبولونو معرفي ته راځي او بيا د شعر پيبنې تمثيلوي. استاد بېنوا په شعر کې د سېمبولونو د درک لپاره جالبې او په زړه پورې قرينې وړاندې کوي، د هسکو دنګو غرونو په لمن کې، چې په سر يې سپينې واورې دي او په زړه کې لعلونه، يو ناروغ پروت دی، ناروغ افغان ولس يا افغان وطن دی او ددې لپاره (د هسکو دنګو غرونو لمن) هم ښکلاييز او تصويري ارزښت دی او هم د سېمبول د پيژندلو لپاره په زړه پورې زمينه ده. له همدې ځايه بيا د شعر تر پايه ټول تصويرونه،پېښې،کلمات،کرکټرونه ، اصطلاحات او ترکيبونه له خپلو لومړنيو او ښکاره مفاهيمو څخه ورها خوا پټ خو ډېر په زړه پورې او منطقي نور مفاهيم هم څرګندوي او زيرک لوستونکی خبروي، چې رنځور څوک او په څه حال کې دی. چا يرغمل کړی او د خلاصون لپاره يې څه کول په کار دي؟ دا رنځور لا نه دی خلاص خو له لرې درو څخه د زلمو او پېغلو غږ راځي، چې:
غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنګ
سليمان لايق د هغې دورې يو بل شاعر دی چې شعرونو کې يې د سېمبولونو او سېمبوليک شاليد منظم حضور وينو. دلته له دې ليد لوري د هغه يو شعر را اخلو:

د شګو کور

څه ده د ژوند د ماشومانو آواز　　چې سپيرو خاورو کې خوسی وهي
له تشو شګو نه مانۍ جوړوي　　ګټې راباسي او ستمې وهي
ای د کوڅو خورو ورو ملګرو　　راځئ چې نوې لوبه سازه کړو

دغه شګلن کورونه ونړوو ځان له دې خاورو بې نیازه کړو
دغه د شګو ناتمام کورونه زور د سیلاو او زلزلو نه لري
دا تورې خاورې دا فاني باغونه ارزښت د جنګ او د دعوو نه لري [vi]

د شګو کور ربښتیا هم هغه کوډله ده، چې ماشومان یې د سیند پر غاړه جوړوي، ایا دا د شګو کور افغانستان نه شي کیدای؟ یا کوم سیاسي اند دود یا لاره نه ده؟ چې دا هر څه کیدای شي. اوس اصلي سېمبول وپیژندل شو، نور ټول سېمبولونه او جوړښتونه همدې ته ورته مرستیال تعبیرونه درلودلای شي؛ (ملګري)، (ژوند)،(نوې لوبه) ،(سیندونه)، (زلزلې)،(فاني باغونه) او نور سېمبولونه د شاعر هغه مرستیال شاعرانه لوازم دي، چې د هغه د آر موخې د څرګندولو لپاره شعر رامنځ ته شوي.

د سېمبولونو د کارونې تر ټولو پیاوړې څېره اروابناد پوهاند بها الدین مجروح دی. دده شاهکار اثر (ځانځانی ښامار) ټول یو سېمبولیک او له نوښته ډک اثر دی. په دې اثر کې اصلي سېمبول (ښامار) د انسان د نفس،خودی، انانیت او ایګو لپاره عجیب تمثیلي ارزښت لري. د اروابناد مجروح د (ځانځانی ښامار) سېمبولیک اثر شرح ددې مقالې له وسه وتلی کار دی. ښه به دا وې چې د اروابناد مجروح یو شعر (دوطن مور) د بېلګې په ډول راوړو:

د وطن مور

ای د وطن مورې! په ماګرانې په زړه پورې! زار قربان دې د میرو شه! دسپیروشړو دشتو شه!
خو لعنت دې په بچو شه! .....
ای د وطن مورې! ستا بچی څنګه بچی دی؟ انسان نه دی دی پخپله هم هېڅکله، ځانته نه وایي انسان یم.
.........
ای د وطن مورې! راته ووایه خپل راز اوس ته چې پېغله ښایسته وې څه پسات دربانديې وشو؟ د انګړ ترشا بیدیا کې ستا کوم غل د لارې مل شو؟ یا د شپې په تروږمی کې څه بلا وه؟ په پالنګ دروختله ...........
ستا بچی وایي وایي ځناوریم خو باچا د ځناورو
زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نشته، بل په کابل نشته، بل په زابل نشته، [vii] ........

مور د افغانستان سېمبول ده، بچي یې خلک یا لږ تر لږه سیاستوال دي. ددې تاریخي شعر هر کرکټر د یوه تاریخي وضعیت،شخصیت،موقیعیت او پېښې سېمبول دی،هېڅ سېمبول تصادفي او پردی نه دی. کمیس او پرتوګ (خړبخن رنګ) او بیا یې خرڅول! ایا دا مو په سترګو ونه لیدل، ایا په تېرو جګړو کې ددې هېواد موزیمونه،شتمنۍ او (پرتوګ) ونه پلورل شول؟ ایا د همدې موربچي د (انسان) پر وژلو، څېرلو، داړلو او لوټلو ځان اتل نه ګڼي، د زمري او یا بل ځناور کمال څه دی.[viii]

او کله چې پر همدې اتلانو زور راغی، ایا ګیدړان ترې جوړ نه شول؟ عجیبه ده زموږ سېمبولیست شاعر په خپل شعر کې د خپلې هېوادنۍ مور د راتلونکې یوه په زړه وړاندوینه کړې ده، هر څه د همدې بچو له لاسه او بیا

شکایت هم همدوی کوي. استاد مجروح په خپل دې سېمبولیک شعر کې د تاریخ پر دروغجنو ویاړونو پورې خاندي او دا زباد وي چې مور هومره هم د ویاړلو وړ نه یو. په دې شعر کې د استاد مجروح ځینې سېمبولونه قراردادي او ځینې نوي دي. خو د سېمبولونو شاعرانه زمکه(زمینه) او موقعیتونه ټول نوي دي.
د پوهاند مجروح دغه اثر یو سېمبولیک اثر دی چې هر سېمبول یې فلسفي او رواني مانا لري، همدا لامل دی چې لوستونکی پرې ژر نه شي پوهېدای. چې دا ډول کارونه یې د ډېر کمو پښتنو شاعرانو له خوا شوې ده، نو د پایلې په توګه دا ویلی شو چې سېمبول په اوسنۍ شاعرۍ کې یو په زړه پورې ځای لري. چې د شعر معنوي ښکلا ترینه څرګندېږي.

ماخذونه

١. لېوال، عبدالغفور(١٣٩٥ل). شعري سېمبولونه.کابل: صدف مطبعه.٣١م. i

٢. ختیک، خوشحال خان.(١٣٩٤ل). دستارنامه،د سیدغني غني په زیار.پېښور:میهن خپرندویه ټولنه.١م ii

٣. لېوال، عبدالغفور(١٣٩٥ل). شعري سېمبولونه.کابل: صدف مطبعه.٤٧م. iii
٤. روهي، محمد صدیق.(١٣٨٦ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. ١٠٩م iv

٥. لېوال، عبدالغفور(١٣٩٥ل). شعري سېمبولونه.١١٠م v
٦. لایق ،سلیمان.( ١٣٦٠ ل).کېږدی.کابل :د افغانستان د علومو اکاډمی (پښتو ټولنه) . ٣٣مخونه vi
٧. مجروح ، سید بهاالدین .( ١٣٨٥ل ).نا اشنا سندرې،د حبیب الله رفیع په زیار.کابل :د کلید د کتاب خپرولواداره،، ،٢٣ــ٢٥م vii

٨. لېوال، عبدالغفور(١٣٩٥ل). شعري سېمبولونه.١٤٤م viii




## گــــل

**شیرزمان صادق**

**د جمال په سره اوفق يې خوله راغله**

**د غوسې نه کله شنه شوه کله سره شوه**

**ما ترې دواړه لاس د مينې تاو را تاو کړل**

**لکه خورمه وه د گل خوره وره شوه**

**په ډيوه د خپل ښايست يې شپې رڼا کړې**

**لکه لمر غوندې شغله وه چې ښکاره شوه**

**د حسينو ښايست نه منم صادقه!**

**چې د چا سره مې مينه ورسره شوه**

## غزل

**اختر محمد مومند**

ژوندپه تلوکې دی بي باکه يوتصويردرسره اخلم
يوکلکه غاړه را که يو تصوير درسره اخلم
دخپل فکرپه وطن کې دهرچاخپل اختياروي
فيصله وکړه خپلواکه يو تصويردرسره اخلم
په تاويلواوماويلوپسې نوره غاړه نه وړو
خدای ته مخ اوماته شاکه يوتصويردرسره اخلم
دازماده اوداستاده نه زماده اونه ستاده
په اورپورې دادنياکه يوتصويردرسره اخلم
داده زړونومحلونه داگردونه نفرتونه
په کوثردنيت صفاکه يوتصويردرسره اخلم
بې له تاپه پسرلوکې هم دژوند رنگونه نشته
دژوندرنگ ژوندکې پيداکه يوتصويردرسره اخلم
په ژوندخه باورمومنده ژوند دژمي مازيگردی
مادځان اوځان زماکه يوتصويردرسره اخلم

# ستورو کاروان

## عبد الحلیم همت

نه ودریږي ، نه راګرځي په شتاب ځي
ژوند روان دی ، د یرغه اس په حساب ځي
زندګي څه خو؟ بس زګ د سمندر دی
په نري شمال له بیخ لکه حباب ځي
په زرم ځل انتظار هم نامراد شوم
رژیدلی می ترلاس زرم ګلاب ځي
چې وریږي پکې غشی د مژګانو
هم هغه ځآی ته مې زړه خانه خراب ځي
تغافل ګڼه خصلت د مهرویانو
مګرستوری وریږسې په آب وتاب ځي
په لټون د شبیه ستړی بیرته راشي
که مې خیال تر ګلستانه، تر افتاب ځي
بی رخي د فلک نه ده نو بیا څه ده؟
چې بې عشقه مې ټول عمر د شباب ځي
د یو چا د بنګړو شرنګ مې خیال راکاږي
داچې زړه مې په نغمه پسې د رباب ځي
په خپل جاه دی غرور نه کاندي همته
خالي لاس به تر ترابه هر جناب ځي

## عرفان الـله کوټوال

اند ښښنو کې د اختر په انتظار یم
د اختر معنا ته ګورم خوارو زار یم
هیڅ جواب د دغه سوال راسره نشته
هر بچي ته بهانو نه ډک اقرار یم
دخپل حق کیسه کې نه یم لویه خدایه
ستا د حق په سوچ اخته یم ګرفتار یم
په ظاهره مخلوقاتو کښې بادشاه یم
په باطن کې یوه ټولګه د اسرار یم
زه کوټوال په دواړه لاسه دعا غواړم
که په رحم دی برات شم کنه ښکار یم

## عبد الرحمن بابا

چې له غرونو پریوتلې وي بیا پاڅي
پاڅیدې نه شي د زړونو پریوتلی
چې د اور لمبو وهلي وي بیا روغ شي
نه رغیږي د هجران لمبو وهلی
زه رحمان یې هر دم وینم ستا په غم کې
که خپل مرګ په سترګو نه دي چا لیدلی

# ستورو کاروان

## د حمزه بابا په طرحه

**بصير بېدار ستوری**

د سرور لباس ﻨ لی په ملال شي
نقصانونه پیوندونه په ک ل شي
حمزه بابا

چې دا ستا د حسن زور ته د چا خیال شي
بس نو بیا په ننداره ستا د جمال شي
د رشوت خوړل په هر مذهب حرام دي
چې قاضي يې خوري نو سم ورته حلال شي
چې دې لفظ له خولي اوباسي نو تله يې
د ک ل خبرې وره په ک ل شي
غرور پرېږده ان د خاورو په مثال که
چې خاکسار شي نو لايق بيا د جلال شي
ددنيا واړه غمونه ترې نه هېر شي
په نصيب چې يې د خپل جانان وصال شي
د نفاق له بد مرضه دې خدای ساته
هغه خوار شي چې اخته په دې جنجال شي
زما هم ورباندې زړه ډېر خفه کې ي
چې خفه ر ي اشنا زړه مې ملال شي
له کم ظرفو سره مه ر ه بېداره
چې سيالانو سره کيني سه ی سيال شي

## نسيم ستوری

د هنداري نه هنداره کمه نه ده
چې په شمار شې نو د شماره کمه نه ده
ستا د سوال په جواب زه کله پوهېږم
د هدف په لور ځنګ لاره کمه نه ده
خريدار يمه د ژوند لپاره ئې اخلم
ساه د مينې د بازاره کمه نه ده
پښتنې ښايسته سيال دې چيرته نشته
لوپټه دې د دستاره کمه نه ده
د حياه د ننګ غېرت په پرده پټه
ستا نشه ځوانې خماره کمه نه ده
نسيم ستوريه تا ته ياد شې ما ويلي
دا سپوږمۍ هم تر سهاره کمه نه ده

# ستوري کاروان

## شاعر ـ نصرت وفا

څه ماتې هيلې ارزوګانې وې راټولې مې کړې
څه پکې ټولې ستا پشانې وې راټولې مې کړې
مرګ فرښته به د دنيا مالک ته داسې وايي
دلته يو څو د کار ساګانې وې راټولې مې کړې
د پښتنو د سر قاتل څومره په جار وايي
دا صيبه دې ښار کې خنداګانې وې راټولې مې کړې
ما د غمونو د درياب په غاړه ژوند کړی دی
ژوند کې مې ټولې ژړاګانې وې راټولې مې کړې
هو  د نصرت وفا په مينه باندې نه جوړيدې
جنګۍ خپل منځو کې ورانې وې راټولې مې کړې

## عزيز الـله صادق

چې نه د دين نه د سادين شي سړی
هسې په زړه باندې سم خوږين شي
سړينو داسې مينې ته به څه ووايې؟
چې بې وفا باندې مېين شي سړی
هغه لحظه به څه خوږه خوږه وي
چې دې ويده پاس په جبين شي سړی
خدايه يو داسې وخت خو راوله خير
چې له خوښۍ په خندا شين شي سړی
په ناروا چې په چا تور ولګي
داسې تور شوی به څه سپين شي سړی
ټولې کيسې د جنازو اوشهيد
په اورېدو يې ښه غمګين شي سړی
چرته چې کلي وي په مينه اباد
ماموندہ هلته چې مکين شي سړی

## يحيى سمون

چا د نفرت لمن نيولې چا د شر لمنه
د يتيمانو غوڅه شوي وي اکثر لمنه
اوس له دې غره نه د لونګو بوټي نه راوړمه
اوس په بمونو پوښل شوې ده د غر لمنه
که زما اورې نو تپوس ته مې اوس مه رادرومه
اوس ټوله کړې ده زما هر يو پرهر لمنه
اوس مې هغې سره هغسې چاندان نه لګېږي
اوس ټوله شوې ده زما، نه د دلبر لمنه
پدې خو نه کېږي راټول شئ اتفاق وکړئ
چا ده د لر لمن نيولې چا د بر لمن
سمونه څه خواږه لفظونه دې له خولې راوځي
څه په هنر دې رانيولې د هنر لمنه



ليکنه: انجنير پښتون (اوصولي)

# د قوشتېپې کانال

د افغانستان دملي او حياتي پروژو څخه شميرل کيږي چې د ملي پراختيا شرکت د داخلي بوديجې څخه پېل شويده چې اوسمهال ۴ زره ماشينرۍ او ۷ زره کارکوونکي په کار بوخت دي چې د قوشتېپې زراعتي کانال 285 کيلو ميتره په طول د درې ولايتونو څخه تيريږي چي د بلخ ولايت د کالدار ولسوالۍ د اموسيند څخه سرچينه اخلي جوزجان ولايت څخه تير او فارياب اندخوي ولسوالي کې پاي مومي چې عرض يې 15.2m متره او ژوروالی د 8.5m - 12m ته رسيږي ددي پروژې په تطبيق سره افغانستان په زراعتي محصولاتو کې په ځان بسيا کيږي چې  دا پروژه  به  د 6 کاله په موده کی او يا هم د ټاکلی مودی نه به مخکي بشپړه شی  ټول به  280000 نفر کاريگر مصروف شي د سروي له مخي په 3 مياشتو کي تری 10 ميلون متره مکعب خاوره لری شوي ده، قوشتېپي  زراعتي کانال د هيواد د ستروطرحو څخه يوه طرحه ده چي 650 متره کعب په ظرفيت 1 ثانيه کي ډيزاين شوی ده  چي موازي د 700000 هکتارو ځمکه د شمال دريو ولايتونو (بلخ،جوزجان،فارياب) د خپل پوښښ لاندي کوي چي دا پروژه په دريو فازونو يا برخو ويشل شوي ده چي لومړي فاز يي 105 کيلو متره دي  بشپړ شوی دی









# د ښوونیز نصاب د نه تطبیق لاملونه

لیکنه: استاد احسان ا لله دانش



ددې لپاره چې موضوع روښانه کړم لومړی باید د نصاب کلیمه وپېژنو:

نصاب د لاتین کلیمې څخه اخیستل شوې کلیمه ده چې مانا د مسابقې میدان یا هغه فاصله او اندازه شوې لار ده چې د ټولنې وګړې یې باید طې کړي تر څو مورد د نظر هدف ته ورسیږي.

یا ښوونیز نصاب ټول هغه تجارب دي چې د رهنمایي لاندې په ښوونځي کې زده کوونکو ته وړاندې کېږي.

هغه لاملونه چې د ښوونیز نصاب د نه تطبیق لامل ګرځي په لاندې ډول دي:

۱ـ د لازمو اسانتیاو کمبود

د هېواد د پوهنې د بیارغونې په برخه کې له هغو کارونو سربېره چې په لسو کلونو کې سرته رسیدلي دي اوس د پوهنې وزارت د اړتیا وړمواد لکه: دښوونځیو د ودانیو، کتابتونونو، لابراتوارونو، درسي مرستندویه مواد، د زده کړې وړ موادو په چمتو کولو کې پاتې راغلي نو په همدې وجه ښوونیز نصاب نه تطبیق کېږي.

۲ـ د مسلکي ښوونکو کمبود

که څه هم په تېرو لسو کلونو کې د هېواد د ښوونکو د روزنې د سیستم د بیارغونې په موخه ستر ګامونه پورته شوي، خو بیا هم زموږ معارف د مسلکي ښوونکو، په تېره بیا د ښځینه ښوونکو له زیات کمبود سره مخامخ دی.

مسلکې پوهه کولی شي چې مضمون په دقیقه پالسۍ مخ پر وړاندې یوسي په وخت او زمان سره یې سرته رسولی شي، په مسلک کې پوهه د مضمون د تطبیق پالسي پرې واضحه او روښانه شوي وي، مسلکي اخلاق ښوونکی دیته اړ کوي چې نصاب د کال ورستۍ نېټې پورې په پوره ډول تطبیق کړی د نه تطبیق په صورت کی مسلک خاوند ته ځنی پوښتنی پیداکیږی د هغوۍ د ځواب په موخه پدی توانیږی چی نصاب مخ یوسی مسلکی اخلاقه ښونکی د ایماني مسولیت له مخې دیته اړکوی چی ښونیز نصاب ټاکل شوی معیار سره په پوره ډول په اخلاص سره مخې ته یوسي ځکه مسلکي کدرونه د موهیمودندڅخه شمېر کیږي.

۳ـ د معلوماتي تکنالوژۍ ته بشپړ لاس نه رسیدل

معلوماتي تکنالوژۍ پر مختللو او مخ پرودې هېوادونو د ښوونې او روزنې نظام بدل کړی دی خو له بده مرغه د افغانستان معارف له دغه حیاتي تکنالوژۍ څخه ګټه نشي اخیستلای او زموږ ښوونه او روزنه له دغو ښیګڼو څخه بې ده.

۴ـ ښونیزنصاب معیاری نه دی :

د ښونیز نصاب د کتابونو حجم غټ دی نوښونکی د وخت دکمبودپه اساس نشی کولی چې ښونیز نصاب تطبیق کړي د زده کونکودسویې مطابق نه دی لیکل شوی ښوونکی نشی کولی چی ښونیز نصاب په بشپړ توګه تطبیق کړی.

۵ـ دنوی ښونیز نصاب د محتوادپیچلتیا ستونزه:

نوی نصاب دسیموسره په پرتلیزډول جوړشوی دی د محتوا څخه مفهوم اخستل ډیر تمرین ته اړتیا لري ترڅومفهوم په ساده اوشفاهی ډول دهیوادنسل ته انتقال شي لویه لاسته راوړنه به وي دا چی محتوا پیچلي ده نوله دی وجې ښونیز نصاب په بشپړډول نه بطبیق کیږي.

٦ـ درسی پلان نه شتون :

په ډيروښوونځيوکی کله چی ښوونکی ټولګي ته راشي درسی پلان نه لري اودرسی پلان د نه شتون په صورت کی هغه ښوونکی چی درسي پلان نه لری زيات وخت د حاضرۍ په اخستلوتيروی د ا ځکه چې درسی ساعت يی په مناسبو برخو نه وی ويشلی نو ښوونکي ته معلومات نه کيږي چی ارزيابي په څومره وخت کی وکړم اوکوم ميتود استعمال کړم نو پدې وخت کی ښوونکی له ستونزې سره مخامخ کيږي او په سم ډول تدريس نشي کولی.

۷ـ فعاله نظارت نه شتون:

نظارت ديوې پروژې دتطبيق لپاره ډير اړين دی چې د نوموړې پروژې ټولي برخې وګوري او دهغې څخه ليدنه وکړي او سمه ارزيابي يې ترسره کړي نوپدې اساس معارف هم مجبور دی چې د ښې زده کړی اودنصاب د تطبيق لپاره ښه او قوی نظارت ولري خوزموږپه هيواد کې بلعکس خبره ده هغه دا چی نظارت اصل شتون نه لری او که شتون هم ولري ډير زيات کمزوری دی هغه دا چې د لږومادې ګټو په خاطر د ښوونکو په جرمونوباندې پرده اچوی او دهغوی سم نظارت نه کوي نو دا هم يو مهم لامل دی چی ښونيز نصاب په مکمل ډول نه تطبيق کيږي.

۸ـ د فعاله ادارې نشتون

ددې لپاره چې زده کړه په ښه ډول صورت ونيسي او نصاب په مکمل ډول تطبيق شي نو بايد يوه فعاله اداره او مديريت بايد شتون ولري تردې چې رئيس بايد په خپلو مربوطه مديرانو او مديران بايد په خپلو ښوونکو باندې قدرت ولري ترڅو د سرغړونې په صورت کې ورته مجازت ورکړل شي.

نودا چې مديريت او هماهنګي شتون نه لري او هر مدير او يا ښوونکی د خپل شخصي پلان له مخې زده کړه پروګرام پرمخ وړي او دهغوی ترمنځ اتفاق شتون نه لري او په په خارجي او سياسي ګوندونو پورې تړلي ډلې جوړوي نو پدې اساس ښوونيز نصاب نه تطبيق کيږي.

۹ـ د پوره بوديجوي امکاناتو نشتون

د پوره نصاب د تطبيق په موخه يو ستر خنډ دی ځکه چې په وخت باندې ښوونځيو ته درسي توکي پلانونه او هم نور مهم درسي مواد نه رسيږي نو ښوونکي نشي کولی چې نصاب په پوره ډول تطبيق کړي د پوره بوديجې په صورت کې کتابونه چاپ په وخت د مختلفوښوونځيو ته د هغوی انتقال مهم فکټور تشکليوي

که چيري کتاب، تخته او قلم موجود نه وي نو ښوونکی له دې امکاناتو پرته خپل تدريس مخ ته نشي وړلی.

۱۰ـ مناسب چاپيريال نشتون

که چيري ښوونځی په مناسب چاپيريال کې شتون ولري په هغو ښوونځيو کې ښوونيز نصاب په ښه شکل سره تطبيق کيږي خو که ښوونځی په مناسب چاپيريال کې وجود ونه لري په هغو ښوونځيو کې ښوونيز نصاب په درست شکل نه تطبيق کيږي ځکه چې چاپيريال د ښوونيز نصاب په تطبيق ډيره اغيزه لري.

۱۱ـ معاشونو لږوالی

له شک پرته بيوزلي او فقر د جګړه ځپلي افغانستان په څير د مخ پر ودې هيوادونو بنسټيزې ستونزې بلل کيږي، چې د بيلا بيلو برخو پراختيايی پروګرامونه يې له زياتو ستونزو سره مخ دي.

د ښوونکو معاش لږوالی او مناسب اقتصادي حالت په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د نظام د ودې په وړاندې هغه عمده خنډ دی چې ددې حياتي سکتور انکشافي پلانونه يې غړند کړې دي.

که چيري يادې ستونزې پای ته ورسيږي نو نصاب به مو په مکمل ډول تطبيق شي.

سید جمال الدین افغاني پوهنتون ،پوهندوی محمدرحیم خاکسار

# د مغزونو د فرار لاملونه او پر لوړو زده کړو يې اغيز



**لنډيز**

د يوه هېواد د اقتصادي، سياسي، ټولنيزې او فرهنگي پراختيا مهم لامل انساني پانگه ده او کولای شي، چې د يوه هېواد په دوامداره پرمختگ کې بنسټيز رول ولوبوي .د مغزونو د فرار مسئله په شلمه پېړۍ کې د پوهې او تکنالوژۍ په پراخيدو سره په لويديځ له همدې امله ، خو دا پديده د مخ پرودې هېوادونو او په ځانگړي ډول د افغانستان لپاره د خطر زنگ گڼل کېږي ،کې رامنځته شوه په هېواد کې د مغزونو فرار يوه جدي مسئله ده .زياتره څېړونکي په دې باور دي، چې د مغزونو د فرار اصلي لامل د يوې ټولنې ناکامې ده، چې د خپلو وگړو اړتياوې نشي پوره کولی او زياتره امنيتي، ټولنيز، اقتصادي، سياسي، علمي او فرهنگي اړخونه په ځان  چې په افغانستان کې د مغزونو فرار گڼ لاملونه لري، چې ترټولو مهم يې امنيتي، سياسي او ، کې رانغا ړي. د څېړنې موندنې ښيې اقتصادي لاملونه دي او ددې ترڅنگ د لويديځو هېوادونو هڅونې او لويديځې رسنۍ هم ددې پدېدې په پراخيدو کې بنسټيز رول لري. له همدې امله د مغزونو فرار به د لوړو زده کړو په سيستم کې ستره علمي تشه رامنځته او د هېواد تحصيلي جمعيت او بنسټونه  تحليلي څېړنه ده، چې موخه يې د مغزونو د فرار د لاملونو څرنگوالی او په لوړو زده کړو يې - به سخت وځيي. دا مقاله يوه توصيفي اغېزې رابرسيره کوي .

د مغزونو د فرار اغېزې، متخصصين ،کډوالي ، کليدي کلمې: د مغزونو فرار

**سريزه**

څرگنده ده، چې انساني سرچينې او په ځانگړي توگه متخصص او کارپوه ځواک د يوې ټولنې په اقتصادي، سياسي، ټولنيز او فرهنگي پ رمختگ کې بنسټيز رول لري. د متخصص او تکړه انساني ځواک شتون مادي پانگه په حرکت راولي او ارزښت يې ترډې بريده دی، چې نظريه ورکونکي يې د يوې ټولنې اصلي شتمنې بولي، چې وړتيا او همغږي يې د

ټولنې د پراختيا کچه ټاکي. اوس مهال د مغزونو فرار د مخ پرودې هېوادونو او په ځانگړي توگه د جنگ ځپلو هېوادونو يوه جدي مسئله او ننگونه ده. د پرمختللو هېوادونو د وړاندې تگ تاريخ په گوته کوي، چې انساني پانگې د دوی د پرمختگ په بهير کې مهم رول لوبولی او په يقيني توگه صنعتي ټولنې د انساني پانگې په شتون کې اقتصادي، ټولنيزه، فرهنگي او تکنالوژيکې وده موندلې او دا ټول د انساني پانگې پوروړي دي. د وروسته پاتې کېدو د مخنيوي او د پرمختگ مرحلو ته د رسيدو لپاره، پرمختللې ټولنې اړ وي، چې د ټولنيزې، اقتصادي، سياسي، فرهنگي او تکنالوژيکي پراختيا د تطبيق او ښه کولو لپاره انساني پانگه رامنځته او وروزي. پرهمدې بنسټ د يوې ټولنې دوامداره پراختيا د هغه ټولنې د اړينو سرچينو او انساني پانگې پورې اړه لري او وروسته پاتې ټولنې پرته له دې چې د ټولنې کليدي فعاليتونو ته پراختيا ورکړي، د انساني پانگې له توليد او جوړښت پرته بله لار نه لري. په يوه ټولنه کې د مثبتو بدلونونو ترټولو مهمه موضوع د هغه ټولنې انساني سرچينې گڼل کېږي. اوس مهال افغاني ټولنه د بيارغونې او پراختيا په برخه کې، تر هرڅه زيات متخصص او تکړه انساني ځواک ته اړتيا لري او ترڅو چې انساني پانگه د پراختيايي

چارو سره مل نه شي او ترڅو چې متخصص او کارپوه وګړي پراختيايي چارې په لاس کې ونه نيسي، اقتصادي، ټولنيزه او فرهنګي پراختيا نه شي کولی، چې په اسانۍ سره د

بريا لوری وټاکي. اوس مهال په نړۍ کې متخصص او کارپوه ځواک د پراختيا مهم وسايل او ستره ذهني، مغزي او فکري شتمنې . د يوه هېواد علمي موازنه د ستونزو او ننګونو سره مخ کړي، ده، چې فرار يې کولای شي

### د څېړنې مسئله

په افغانستان کې د مغزونو فرار يوه مهمه او پېچلې شوې مسئله ده او د کلونو راهيسې د نومو ړې پديدې سره لاس او ګريوان دی . په افغانستان کې د نظامونو ادلون بدلون، اوږدو جګړو او پرله پسې بې ثباتۍ دا مسئله لا سخته او پيچيلې کړې ده. په دې وروستيو کلونو کې د جمهوري نظام په پرځيدو او د اسلامي امارت په واک ته رسيدو سره دا لړۍ د اوج تر بريده رسيدلې او د هرې و رځې په تېريدو سره د بيلابيلو برخو متخصين، پوهان، مفکرين، استادان او څېړونکي له هېواده وځي او په دې توګه افغانستان دغه ارزښتمنه انساني پانګې دلاسه ورکوي، چې جبران يې زيات وخت او ډېرو لګښتونو ته اړتيا لري. اوس مهال افغانستان د نړۍ د هغو هېوادونو په سر کې ځای لري، چې هره ورځ ترې د مغزونو د فرار سيلونه وځي، خو دا حاده مسئله ناديده نيول کېږي او مخنيوي لپاره يې ان تردې چې کوچني ګامونه هم نه اخيستل کېږي او ورته هيڅ پاملرنه نه کېږي، چې همدا د څېړنه مسئله ده. ددې مسئلې دوام به د حکومتولۍ او لوړو زده کړو په برخه کې زياتې ستونزې رامنځته او په لنډ مهال کې به د هېواد تحصيلي نظام او بنسټونه له يوې سترې علمي تشې سره مخ کړي .

### د څېړنې موخې

.د مغزونو  پر فرار د اغېزمنو لاملونو څېړنه ١

.د مغزونو د فرار د مخنيوي د لارو چارو پېژندنه ٢

د څېړنې پوښتنې

.د مغزونو د فرار لاملونه څه دي؟١

. د مغزونو د فرار د مخنيوي لارې چارې کومې دي؟ ٢

### د څېړنې مخينه

د تاريخي څېړنو په په پايله کې څرګنده شوي، چې د مغزونو فرار د بشري تاريخ په ټولو دورو کې شتون درلود  هوساً .انسان فطرتا طلب دی او هلته ژوند خوښوي، چېرې چې زياته هوساينه او ارامي شتون ولري .د تاريخ په اوږدو کې انسانانو، روڼ اندو او لوستو وګړو کوم ځای چې د ژوند تېرولو لپاره امن او مناسب ليدلی، هملغته يې ژوند پېل کړی دی. پردې مهال د انسانانو ځای پرځای کېدنه د مغزونو د فرار پديدې د ماهيت سره توپير درلود او د کډوال په نوم پېژندل کېدل، طبيعي بڼه يې لرله او د يوې ټولنيزې ستونزې په توګه نه مطرح کېده. په داسې حال کې چې د مغزونو د فرار پديده د يوه ټولنيز او فرهنګي بحران په توګه پېژندل کېږي. د مغزونو د فرار په اړه زياتې څېړنې ترسره شوي، چې د دغو څېړنو ستره برخه د مخ پرودې هېوادونو څخه د پرمختللو هېوادونو په لور د متخصصينو، پوهانو، کارپوهانو او روڼ اندو د کډوالۍ مسئله په ځان کې رانغاړي، چې ځينې مهمې يې په لاندې ډول دي :

صالحي اميري د يوې څېړنې په پای کې دې نتيجې ته رسيدلی، چې د مغزونو د فرار ترټولو مهم عامل د ښوونيز نظام کمزورتيا .،م١٣٧١ ، ده، نوموړی زياتوي، چې شديده اداري بيروکراسي او د غربي ژوند تقليد د مغزونو پر فرار دويمه درجه اغېزه لري (صالحی م کال کې د مغزونو د فرار اقتصاد ترسرليک لاندې د يوې مقالې په ترڅ کې څرګنده کړي، ٢٠٠٢ .) همدارنګه ادد ستارک په ٩٨ ، چې د مخ پرودې هېوادونو د بيوزلۍ ترټولو مهم لامل د انساني پانګې کمښت دی .نوموړی زياتوي هغه هېواد په بد مرغۍ کې دی )Stark, 2002(.چې د انساني پانګې اندازه يې د کډوالۍ له امله د رامنځته شوي زيان څخه لږه وي

م کال کې اقتصادي کډوالي او د مغزونو فرار ترسرليک لاندې په يوه څېړنه کې دې ٢٠٠٣    په همدې ترتيب ريچارد ادميس په پايلې ته رسيدلی، چې د مخ پرودې هېوادونو کډوالي د زياتيدو په حال کې

ده او زیاتره کډوال یې زده کړیالان او لوستي وګړي دي .) حمید آراسته د یوې څېړنې په پایله کې څرګندوي، چې د شغلي او شخصي لاملونو سربیره د بوختیا ازادي، د عمل )Adams, 203 ازادي او د غوره سیاسي او ټولني زو شرایطو نشتوالی د هغه لاملونو په ډله کې شامل دي، چې د علمي شخصیتونو د کډوالۍ زمینه .)۱۳۸۰ ، برابروي (آراسته

شهیدازده په دې باور دی، چې په پرمختللو هېوادونو کې د مغزونو د فرار مسئله چندان اغېزه نه لري، ځکه چې په دغو هېوادونو د مغزونو تبادله صورت نیسي، خو د مخ پروديې هېوادونو لپاره د یوه بحران په توګه مطرح کېدای شي، ځکه چې مخ پروديې هېوادونه هلته د مغزونو تبادله صورت نه نیسي. په دې هېوادونو کې ، د روڼ اندو او متخصصینو دساتلو وړتیا نه لري او له بل پلوه ،له یوې خوا .) د متخصصینو او روڼ اندو د ۵،م. ۱۳۷۰ سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي لملونه د مغزونو د فرار لمل ګرځي (شهیدزاده، کډوالۍ مسئله څو اړخونه لري، چې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز اړخونه یې تر ټولو مهم دي، له همدې امله نوموړي پدیده د مخ )Brana, 2006(.پروديې هېوادونو تر ټولو ترینګلې او ستونزي زیږونکي مسئله ده

همدرانګه محمدحسین باقري د یوې څېړنې په ترځ کې دا پایله ترلاسه کړي، چې د قوانینو، لایحو، مقررو او طرزالعملونو چټک بدلون او پر ټولنه او هغو پوهانو باندې یې اغېزه، چې د راتلونکي لپاره د څېړنو او پلانونو په جوړولو بوخت دي، د مغزونو د فرار لامل .) په همدې ترتیب خسرو سلجوقي په یوه ښې او منطقې ډلبندۍ کې د دریمې نړۍ هېوادونو ۹ م.،۱۳۸۳ ، کېدای شي ( باقری ۱۵ څخه د پرمختللو هېوادونو په لور د مغزونو د فرار لاملونه پېژندلي دي او نومو ړی پر اقتصادي او غیر اقتصادي لاملونو ټینګار ۱۰ .، م۱۳۷۹ ، کوي (سلجوقی ۴ (.

## د څېړنې میتود او کړنلاره

هرڅېړونکی د څېړنې پرمهال د اړینوموادو، معلوماتو او وسایلو په لټه کې وي، په لومړي سرکې مې د مغزونو د فرار په اړه بیلابیلې سرچینې راټولې ک ړې، له مطالعې وروسته مې د موضوع سره په تړاو او نه تړاو اثار یو له بل څخه بیل کړل. هغه مطالب چې ډېر اړین وو او ددغې څېړنې سره یې تړاو درلود، په دغه مقاله کې د ټاکلو سرلیکونو لاندې ځای پرځای کړل. که څه هم د افغانستان د مغزونو د فرار په اړه ډېرې لږې لیکنې ش وې .دغه مقاله یوه توصیفي څېړنه ده، چې معلومات یې له بېلابېلو سرچېنو لکه: له کتابونو، مجلو، ژورنالونو او نورو راټول، تحلیل او تجزیه ش وې او یوه لنډه سریزه او مناسبه پایله پرې لیکل ش وې او میتود یې تحلیلي دی .

## د مغزونو د فرار پدیدې ته یوه لنډه کتنه

لسیزې په منځ کې رامنځته شوه، پردې مهال عمومي باور ۱۹۵۰ د مغزونو د فرار اصطلاح د لومړي ځل لپاره د انګلیسانو له خوا د دا و، چې د انګلیسي پوهنتونونو د فارغانو شمېر د هغه هېواد د اړتیا وو د پوره کولو لپاره بسنه نه کوله او ددې ناکافي شمېر یوه برخه,Mackay 1969, P( د کار په لټه کې نورو هېوادونو ته تللې وه : ). ددې پدیدې ریښه د امریکا او انګلستان په تاریخي اړیکو کې 32 شتون درلود او پردې مهال انګلیسي انجینران او ډاکتران د زیات عاید او مناسب چاپیریال د پیدا کولو لپاره امریکا ته کډوال ش وي وو .کله چې اروپایي هېوادونو له جګړې وروسته د ویجاړیو او ورانیو په ترمیم او بیارغونه لاس پورې کړ، دوی د صنعتي کېدو لپاره اړ .)پردې مهال دغه ۶ م.،۱۳۹۴ ، شو، چې له دریمې نړۍ هېوادونو څخه مختصصین، روڼ اندي او کار پوهان جذب کړي (عبدلی مفهوم په مختلفو ښو تعبیر او تفسیر شوی و یوټکې ته اشاره کوي، هغه دا چې له یوه هېواده د اشرافو، ً خو ټول تعریفونه اساسا ، پوهانو، مفکرینو او متخصصینو وتل او نورو ځایونو ته د هغوي مهاجرت چې د کار او ژوند لپاره ښه شرایط ولري .د مغزونو فرار اصطلاح ویل کېږي، د مغزونو کډوالي، د لوستو او لایقو وګړو کډوالي، د مغزونو ښکار او د استعدادونوBrian Drain چې په انګلیسي کې ورته .)د مغزونو فرار د دریمې نړۍ هېوادونو پورې ځانګړې شوی ټولنیز ۱۶۲ ،م.۱۳۸۱ او وړتیاوو ترور هم ورته ویل کېدای شي (وقوفی، زیان دی، چې د دغو هېوادونو ځوانان ترې رنځ وړي. د څېړونکو او پوهانو له نظره د مغزونو فرار د پرمختللو هېوادونو له خوا د دریمې

نړۍ هېوادونو یو ډول استثمار دی، چې د خورا ویجاړونکي ټولنیز ناورین په توګه پېژندل کېدای شي. د مغزونو په فرار کې د فرهنګ کچه، ښوونه او روزنه، د والدینو رضایت، د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ نشتوالی، د کاري خوندیت وب او هوساینې نشتوالی مهم رول .)۱۳۹۰ تر مادي او معیشتي عواملو زیات دی (طیبی، ، لري، خو په دې کې د ټولنیزو، امنیتي، سیاسي او معنوي عواملو رول

د مغزونو فرار هغه پدیدې ته اشاره کوي، چې پکې د یوه هېواد علمي کادرونه د مختلفو دلایلو له مخې خپل هېواد پرېږدي او په بل کونج کې مهاجر شي، ترڅو په غوره امنیتي شرایطو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي .یا په بل عبارت، له مخ پروديې هېوادونو څخه پرمختللو هېوادونو ته د متخصصینو، پوهانو، انجینرانو، فزیک پوهانو او نورو مسلکي وګړو کډوالۍ ته د مغزونو فرار ویل کېږي .) پرهمدې بنسټ ویلی شو، چې د مغزونو فرار هغه بهیر ته ویل کېږي، چې د یوه هېواد متخصصین او پوهان د ۱۳۷۸ ،(اسماعیلی ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، علمي او کلتوري ستونزو، د څېړنیزو اسانتیاوو او هوساینې د نشتوالي او د ټولنې د کمزورتیا له امله ونه شي کړای، چې د خپل تخصص او ځواک څخه ګټه واخلي .دوی ا ړکېږي، چې د تجربو د ترلسه کولو، علمي پرمختګونو، لوړ حقونو، هغو هېوادونو ته کډوال شي، چې غوره ټولنیز، اقتصادي، ،وقار، ټولنیزې هوساینې، فکري ازادۍ او نویو سرچینو ته د لس رسي لپاره سیاسي، علمي او کلتوري ښیګڼې ولري او دوی وکړای شي، چې د ټولنې د پراختیا لپاره خپل تخصص او علمي وړتیا وکاروي. له .)۱۲۳ ،م.۱۳۸۱ همدې امله د مغزونو فرار د یوې ټولنې د انساني او فکري پانګې ضایع کول او له منځه وړل دي (محسنی،

د متخصص انساني ځواک کمښت د یوه هېواد د اقتصادي ودې د ورو کېدو لامل کېږي، که یو هېواد زیاتې طبیعي سرچینې او کافي پانګه ولري، مګر لازم متخصص انساني ځواک و نه لري، نه شي کولای چې د پ رمختیایي لړۍ د پرمخ بیولو لپاره بنسټیز پلانونه او برنامې ترکار لاندې ونیسي، له همدې امله د مغزونو فرار د یوه هېواد د پراختیا پروړاندې ستر ناورین ګڼل کېږي. له بده مرغه کلونو کې له ۱۹۷۲ - ۱۹۶۰ .) د ځینو راپورونو پربنسټ په ۸ م.،۱۳۹۴ ، اوس مهال دا پدیده د پراختیا په حال کې ده ( عبدلی درې سوه زرو زیات انجینران،جراحان، تکنیشن او ماهر کارګر له مخ پرودې هېوادونو څخه امریکا، کاناډا او انګلستان هېوادونو ته د استوګنې په پار تللي دي. همدارنګه د پیسو د نړیوال صندوق د څرګندونو له مخې د مغزونو د فرار لړۍ له مخ پرودې هېوادونو څخه م کال په امریکا کې د یوې سرشمېرنې ۱۹۹۰ لسیزې را پدیخوا یو ځل بیا چټکه ش وې ده. په ۱۹۹۰پرمختللو صنعتي هېوادونو ته له میلیون تنه چې لوړې زده ۱,۵ پربنسټ څرګنده شوه، چې د اسیایي او ارام سمندر حوزې هېوادونو له اووه میلیون تنو کډوالو څخه کړې یې درلودلې، یوازې د امریکا متحده ایالتو ته کډ وال شوې وو. په همدې ترتیب د ځینو څېړنیزو مرکزونو د څېړنو پربنسټ په تېره لسیزه کې د څېړنیزو حوزو متخصصینو او علمي څېړونکو له مخ پرودې هېوادونو څخه کډه کړې او اوس مهال په صنعتي هېوادونو کې په کار بوخت دي .له مخ پرودې هېوادونو څخه د مغزونو فرار به ددې لامل شي، چې دا هېوادونه به د علم او تکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې او کارونې ځواک او وړتیا دلاسه ورکړي او دا کار به په مستقیم ډول پر ښوونه او روزنه، تولیداتو، صادراتو او .)۲۳۱،م. ۱۳۸۲ ، وارداتو ناوړه اغېزه وکړي او بلاخره اقتصادي بنسټونه به یې د سیالۍ وړتیا هم دلاسه و رکړي (حسینی

د جینتیکي څېړنو بنسټ ویلی شو هر متخصص او کار پوه چې له هېواده وځي او په بل هېواد کې ژوند غوره کوي، هلته واده او کوچنیان زېږوي، د هغه هېواد د هوښیارو جینونو په ډېرولو کې مرسته کوي، چې په دې سره په متخصص ټولنو کې د هوښیار جینونو سلنه لو ړېږي او په اوږد مهال کې به د اصلي هېواد او جذب کونکي هېواد ترمنځ لوی جنیتیکي توپیر رامنځته او په دې توګه به یوه مختصصه ټولنه رامنځته شي او د علم او تکنالوژۍ په تولید کې به ترټولو مخکښ شي. له همدې امله د مخ پرودې هېوادونو د مغزونو د ف رار لوړې شمېرې په اوږد مهال کې په زیاته کچه د هوښیار نسل جینونه دلاسه ورکوي او په دې سره به د علم او تکنالوژۍ .)۱۳۹۰ د تولید او نویو صنعتونو د ت ولید زیات فرصتونه هم دلاسه ورکړي (طیبی،

له بده مرغه افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د نړۍ په کچه د مغزونو د فرار لوړه کچه لري او اوس مهال پکې دا ټولنیزه پدیده د پراخیدو په حال کې ده او صعودي سیر طی کوي. هر کال په زرګونو ځوانان او کارپوهان چې لوړې زده کړې لري، له هیواده وځي او د سیل د څپو په څېر ترې کوچ کوي، چې دا کار د لوړ زده کړو په سیستم ناوړه اغېزه کوي او فلج کېدو ته یې ورنږدې کوي. په داسې حال کې چې افغانستان د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزې، علمي او فرهنګي تشې د ډکولو او ثابتې پراختیا .)۱۴۰۱ ، ته د رسیدو لپاره، تر ټولو زیات انساني سرچینو ته اړتیا لري، خو د مغزونو فرار دغه تشه لاپسې ژوره کړې ده (ضیایي

**د مغزونو د فرار لاملونه**

د مغزونو فرار او نورو هېوادونو ته د علمي کادرونو، متخصصینو او کارپوهانو د کډوالۍ مسئله په بنسټیز ډول نه ده څېړل شوې او په دې برخه کې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او داسې نور ډېر مسایل او لاملونه شته، چې د مغزونو د فرار زمینه براب ر وي. په نړۍ تردې چې ځینو پوهانو او څېړونکو د خپلو څېړنو په پایله کې د مغزونو د فرار ، کې ګڼ شمېر لاملونه د مغزونو فرار رامنځته کوي لا ملونه، علتونه او انګیزې په ګوته کړې، چې ځینې یې اصلي او ځینې یې ثانویه لاملونه دي او هر یو یې د مغزونو د فرار لړۍ ۱۵۰ ګړندۍ کولای شي، مګر مونږ دلته له ځو مهمو اصلي لاملونو څخه یادونه کوو :

**الف .امنیتي لاملونه**

په افغانستان کې څلور لسیزو جګړې او دوامداره بې ثباتۍ د مغزونو د فرار مهم لامل ګڼل کېږي. د هېواد د څو لسیزو سیاسي تاریخ د بیلابیلو نظامونو د زوال شاهدی دی. په هېواد کې د یوه حکومت په ړنګیدو سره ټول جوړښتونه او بنسټونه له یوې مخې نړېږي او هر څه له سره پیلېږي، چې دا ډول حالت د لوستو وګړو او ځوانانو د ناهیلۍ لامل ګرځي او دې ته اړ کېږي، چې خپل وطن ترک او نورو هېوادونو ته فرار وکړي. کله چې یو دولتي بنسټ دایمي ثبات او استمرار ونه ل ري، له خلکو او ټولنې څخه د ثبات او دوام تمه کول ناسم کار دی. سره له دې چې افغانستان د مخ پرودې هېواد په توګه ځوان متخصص ځواک ته ډېره اړتیا لري او په تېرو څو لسیزو کې یې د ځوان نسل د روزنې لپاره زیات مالي لګښتونه زغملي، ترڅو د کړای شي، چې د هېواد په اقتصادي، سیاسي، ټولنیز، تعلیمي، فرهنګي او تکنالوژیکي پراختیا او غوړېدا کې ترې ګټه پورته کړي. له بده مرغه د سیاسي بې ثباتۍ او جګړو له امله ډېری فرصتونه له منځه تللي او دې کار په ستره کچه د مغزونو فرار ته زمینه برابره کړې ده. د نړیوال بانک د راپور پربنسټ افغانستان چې هر کال یې انساني پانګه د نړۍ مختلفو هېوادونو ته لې ږد ول کېږي او دا لړۍ په وروستیو ، د هغه هېوادونو په ډله کې شامل دی کلونو کې د جګړو او د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې بې ثباتۍ او فرصتونو د ضایع کېدو له امله صعودي بڼه خپله کړې او یوازې په )World Bank -Net migrationمیلیون وګړي له افغانستان څخه د نړۍ مختلفو هېوادونو ته کډوال شوي ۲،٦ م کال کې ۲۰۲۰ م کال د اسلامي امارت په واک ته رسیدو سره صعودي سیر طی کړی دی. د ملګرو ملتونو ۲۰۲۱ .)). همدارنګه دا شمېره په ۹۴۸ Data زره او ۳٦ تنه پاکستان او ۲۹۸ زره او ۷۴ د کډوالۍ اداري د راپور له مخې یوازې د مارچ میاشتې په وروستۍ یوه اونۍ کې میلیون افغان کډوال لا پخوا په پنځو ګاونډیو هېوادونو کې استوګن ۵،۷ تنه ایران تهکډوال شوي او د همدې ادارې د شمېرو پربنسټ شوي، چې په دې کډوالو کې کار پوهان، متخصصین او روڼ اندي شامل دي (, .) په همدې ترتیب په افغانستان UNHCR 2021 کې د جمهوري نظام په پرځیدو او د اسلامي امارت په واک ته رسیدو سره د مغزونو فرار یو ځل بیا صعودي حرکت پیل کړ، تردې تنه له هېواده وویستل، چې په د وی ۱۲۴۰۰چې د جمهوریت د پرځیدو په لومړیو شپږو اونیو کې امریکا د تخلیې د عملیاتو په بهانه کې په مطلق اکثریت سره متخصص، کارپوهان او لوستي وګړي شامل وو او له دې وروسته په تدریجي ډول په لسګونو زره تنو وګړو خپل هېواد پرېښود او لویدیځو هېوادونو ته کډوال شو او دا لړۍ تردې دمه جریان لري، چې دا د اندېښنې وړ مسئله او جبران یې ستونزمن دی .

**ب .سیاسي لاملونه**

په نړۍ او په ځانګړي ډول په افغانستان کې مهاجرتونه او د مغزونو فرار د سیاسي ثبات او امنیت سره نیغه اړیکه لري، که په افغانستان کې د مغزونو د فرار اصلي لاملونه وڅېړل شي، نو لیدل کېږي، چې ناامني او سیاسي حالات د کډوالۍ او د مغزونو د فرار لوم ړني فکټورونه دي. په افغانستان کې تل د سیاسي حالاتو بدلون ددې لمل شوی، چې د هېواد زیاتره وګړي او په ځانګړي ډول علمي کادرونه، پوهان او لوستي ځوانان د هېواد پرېښودو ته اړ شي او په ډېرو خطرناکو لارو ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسوي. د سیاسي لاملونو په ډله کې بل مهم لامل په هېواد کې د سیاسي پرانیستې فضاء نشتوالی دی، چې دې ډول حالت تل کارپوهان او متخصصین ځورند ساتلي دي. د تاریخ په اوږدو کې د هېواد د بیلابیلو برخو متخصصین او کارپوهان ګواښل شوي او هیڅ فرصت نه دی ورکړل شوی. همدارنګه د هېواد په سیاسي برخلیک کې د متخصصینو او کار پوهانو لپاره د مناسب بستر نشتوالی بل لامل دی، چې د مغزونو فرار رامنځته کوي او د سیاسي تضادونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. له همدې امله سایمون په دې باور دی، .) پردې ۲۰۰۲ ، چې د مغزونو د فرار مهم لاملونه سیاسي او محیطي تضادونه دي، چې د مختصصینو د فرار لامل ګرځي (سایمون سربېره سیاسي بې ثباتي، پرله پسې بحرانونه، په قوانینو او مقرراتو کې چټک بدلونونه، د کورنیو او بهرنیو جګړو ګواښونه، د فکري امنیت نشتوالی او له علمي کادرونو او متخصصینو سره نامناسب چلند د مغزونو د فرار ترټولو مهم سیاسي لاملونه دي (رافت، .)۷،م. ۱۳۹۵

**ج. اقتصادي لاملونه**

نږدې ټولو هغو څېړونکو چې د مغزونو د فرار په اړه یې څېړنې کړې دي، اقتصادي عامل یې په دې برخه کې ترټولو مهم او اغېزمن ګڼلی دی. د بډایه او بیوزله هېوادونو ترمنځ د واټن زیاتوالی، د دغو ټولنو ترمنځ د تبادلې منفي اړیکې، په مخ پرودې هېوادونو کې د بیوزلۍ پراختیا او د انفلاسیون لوړه کچه، د ژوند ټیټ معیار او د سرې سر عاید، د پرمختللو هېوادونو مادي جاذبې، د پرمختللو او مخ پرودې هېوادونو د اسانتیاوو ترمنځ واټن، په پرمختللو او مخ پرودې ټولنو کې د اقتصادي پراختیا نا انډوله حرکت، د عاید او لګښتونو نابرابري، د کاري فرصتونو او کاري خوندیتوب نشتوالی، د هېواد د اړتیاوو سره د تخصص او مهارتونو د مطابقت نشتوالی او داسې نور له هغو لاملونو څخه دي، چې د بوختیا او عاید په موخه د بشري ځواک پر کډوالۍ نیغه اغېزه لري (ادامیس .)۲۰۰۵او پیچ،

د اقتصادي لاملونو په ډله کې ترټولو مهم فکټور د عاید کچه ده، د مختلفو دلایلو له مخې په وروسته پاتې او مخ پرودې هېوادونو کې د افرادو ځواک د دوی د موثریت او تولید سره تړاو نه لري او معمولاً د کار ارزښت (معاش) یې خورا ټیټ وي. په ډېرى مواردو کې د متخصصینو مهارتونه او تخصص په پام کې نه نیول کېږي او معمولً په داسې دندو ګمارل کېږي، چې د دوی د تخصص سره تړاو نه لري. د کار بازار دومره ظرفیت او پراخوالی نه لري، چې متخصص کاري ځواک جذب او پوښښ کړي. څېړنه او پراختیا چې ت رټولو مهمه موضوع ده او د مختلفو برخو متخصصین له خپلې پوهې څخه د څېړنې او پراختیا په برخه کې په عملي توګه کار اخلي او د شته وضعیت د ښه والي لپاره کار کوي، مګر له بده مرغه په دغو هېوادونو کې خپل مناسب ځای نه لري. د افغانستان په څېر بیوزله ټولنه تر بل هرڅه زیات د پوهانو او مفکرینو تخصص ته اړتیا لري، خو دغه ټولنه له دغو سترو انساني پانګو څخه د کارونې ځواک او وړتیا نه لري .د صنعتي سکټور کوچنیوالی او شاته پاتې کېدل ( ځکه چې دا سکټور د پوهانو او متخصصینو ستره برخه ، جذبوي) له هغو فکټورونو څخه دی، چې د مغزونو فرار ته وده ورکوي. د بیکارۍ بیمې او ټولنیز امنیت نشتون هم ددې لمل کېږي .) یو له هغو لاملونو څخه چې ۱۹ م.،۱۴۰۰ ، چې وګړي د خپل راتلونکي برخلیک په ا ړه ډاډمن نه وي او خپل وطن پرېږدي (نجفي نورو هېوادونو ته د روڼ اندو د جذب لامل ګرځي، اقتصادي لاملونه دي. کله چې په بهر کې د یوه متخصص معاش په افغانستان کې د ورته متخصص د معاش سره لسګونه ځله توپیر ولري، اړینه ده، چې هغه به له خپل هېواده د تللو فکر کوي (میر باقری، م. .)د عاید ټیټه کچه او د سواد او عاید د کچې ترمنځ توپیر د مغزونو د فرار یو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کېږي، چې دا امر په ۴ ځانګړي توګه په پرمختیایي هېوادونو کې د پام وړ دی. په افغانستان کې د لوستو وګړو او روڼ اندو د عاید کچه ډېره ټیټه او د لاس له همدې امله له هېواده د مغزونو فرار اصلي لامل

بد اقتصادي ،مزد او معاش توپیر یې د پرمختللو هېوادونو په پرتله ډېر زیات دی وضعیت ګڼل کېږي .

## د. بیکاري او بېوزلي

سلنې زیاته ځوانه انساني پانګه لري، چې د پراختیایي پلانونو د نشتوالي له امله یې د بېوزلۍ او بیکارۍ کچه ۶۰ افغانستان له سلنه وګړي په مطلق ډول د بېوزلۍ ت رکرښې لاندې ۴۸ م کال کې د هېواد ۲۰۲۰ مخ په لوړېدو ده. د نړیوال بانګ د راپور پربنسټ په ژوند درلود او د وګړو زیاته برخه یې بیکاره وه .په دې ورروستیو کلونو کې د نړیوالو مرستو په بندیدو سره یې د بیکارۍ کچه لا پورته تللې ده. د نړیوال بانک د راپور پربنسټ په هېواد کې د سرې سره عاید کچه ډېره ټیټه ده، له همدې امله لږ عاید لرونکي هېوادونه د مغزونو فرار د مسئلې سره لاس او ګرې وان وي. بیکاره لوستي ځوانان چې له ګڼو ستونزو سره مخ دي او د یوې ناڅرګندې راتلونکې هغو ځایونو ته ولاړ شي، چې د دوی درناوی او ارزښت ، سره چې په نږدې مهال کې یې د پرمختګ تمه نه کېږي، هڅه کوي چې

پکې نغښتی وي او وکولای شي، چې د یوه شخصیت په توګه هلته ژوند وکړي، ښه دنده او عاید ولري. له همدې امله زیاتره څېړونکي او پوهان په دې باور دي، چې د یوه هېواد ترینګلی اقتصادي وضعیت او د بیکارۍ لوړه کچه د مغزونو د فرار مهم لامل دی (آراسته، ). پرهمدې بنسټ ادد ستا رک د یوې څېړنې په پای کې دې نتیجې ته رسیدلی، چې د مخ پرودې هېوادونو د بېوزلۍ مهم ۱۳۵۷ لامل د انساني پانګې کمښت دی او هغه هېوادونه د بدمرغۍ سره لاس او ګریوان وي، چې انساني پانګه یې د کډوالۍ له ګواښ ،Stark(. )2002سره مخ وي

## هـ. ټولنیز لاملونه

د مغزونو د فرار بل لامل د لوستو وګړو د ارزښت او کرامت نه پېژندل او د هغوی سره د چلند د طریقې نشتوالی دی، چې په دې کې د خپلو مطالعاتو د پلانونو یا پروژو د وړاندې کولو لپاره د مناسبو فرصتونو نه برابرول هم شامل دي .افغاني ټولنه یوه سنتي ټولنه ده، چې ټولنیز جبر یې د متخصصینو، روڼد اندو او کارپوهانو پر رواني

وضعیت ناوړه اغېزه کوي او دوی اړکوي، چې د ټولنې د ځینو نادودو سره د عمر تر پایه مبارزه وکړي، چې دا کار ټولنیزه ناهیلي رامنځته کوي او په خپل وار سره د مغزونو د فرار زمینه برابروي . کله چې په یوه هېواد کې ګمارنې، استخدام، پوستونه او مسؤلیتونه د افرادو د تخصص او وړتیا پر بنسټ نه وي، بلکې د ګوند، کورنۍ او شخصي سلیقې له امله وي او مسؤلیتونه د تخصص او وړتیا پرته وګړو ته سپارل کېږي، دا ډول بې لیاقتي ټولنه د ناهیلۍ، بې کفایتۍ، د ناسمې وړاندوینې او پلان د نشتوالي سره مخ کوي، چې بلاخره دا چاره د متخصصینو او کارپوهانو پر وړاندې ساحه .) همدانګه ۱۳۷۹ ، کوچنۍ کوي، په ټولنه کې یې ارزښت کموي او له ټولنې څخه یې جلا کوي او د فرار زمینه یې برابروي (سلجوقی کله چې د یوه هېواد موجوده ټولنیزو وضعیت لږ تر لږه د فرد اړتیاوې پوره نشي کړای وګړي نورو ځایونو ته د تللو فکر کوي او داسې ځای ته حرکت کوي، چې د دوی د محرومیت لیری کولو لپاره غوره شرایط ولري. له همدې امله ابوالقاسم طلوع د یوې څېړنې په ترڅ کې دې پایلې ته رسیدلی، چې ټولنیز محرومیتونه د مغزونو د فرار مهم لمل دی او زیاتوي، چې د مغزونو د فرار زیاتره لملونه .) همدارنګه بې عدالتي، د امنیت نشتوالی، د ټولنیزې هوساینې نشتوالی، په ۱۱۱ م.،۱۳۸۷ ، ټولنیزو اړخونو ته ورګرځي (فلاحی ټولنیزو اسانتیاوو لکه سوکالۍ، روغتیا او تفریح کې نابرابري، قانون ته نه درناوی او د راتلونکې په اړه بې باوري د مغزونو د فرار مهم .)۱۶۲، م. ۱۳۸۲ټولنیز لاملونه ګڼل کېږي (میری آشتیانی،

## و. لویدیځې رسنۍ

له افغانستانه د مغزونو د فرار بل مهم لامل رسنۍ دي او په ځانګړې ډول هغه رسنۍ چې د لویدیځوالو په انحصار کې دي. په افغانستان کې د بهرنیو رسنیو ناسم تبلیغات او خپرونې د افغانستان ناسم انځور وړاندې کوي، دوی کوچنۍ ستونزې لوی کوي او له حقیقته لیرې د هېواد وضعیت کړکیچن معرفي کوي او په دې توګه د وګړو عمومي افکار تخریبوي او وګړي د خپل راتلونکې په اړه ناهیلي کوي .دوی د افغان متخصصینو او کارپوهانو د ویستلو لپاره ګڼ پلانونه تر لاس لاندې لري او هڅه کوي، چې د بیلابیلو پلمو په

جوړولو سره دا لړۍ لا پسې چټکه کړي او هېواد د مغزونو د فرار له بحران سره مخ کړي. پکار ده، چې ددې وضعیت د ماتولو ، لپاره په کور دننه د هېواد ملي رسنۍ، رسنیز پوښښ او رسنیز بنسټونه پراخ او پیاوړي شي او د ځانګړو برنامو په وسیله وکړای شي چې ناسم تبلیغات مهار او د مغزونو د فرار مخه ونیسي .په یوه ټولنه کې رسنۍ مهم رول لري او د وګړو ترمنځ د اړیکو مهمې وسیلې دي او کولای شي، چې د وګړو فکري او عملي لومړیتوبونه مشخص کړي. له بده مرغه په هېواد کې د رسنیو غیر مسلکي والی او ناسم پوښښ ددې لامل شوی، چې د رسنیز یرغل په مخنیوي کې پاتې راشي (شخصي یاداښتونه) .

## ز. څېړنو او نوښتونو ته ارزښت نه ورکول

په پوهنتونونو او علمي مرکزونو کې د کیفیت د ودې او څېړنې له پامه غورځول او ورته ارزښت نه ورکول، د مغزونو د فرار بل مهم ، لامل دی. یو له هغو فکټورونو څخه چې ډېری زده کوونکي د امریکا متحده ایالاتو او اروپایي هېوادونو ته جذبوي تحصیلي، څېړني زې کمپیوتري اسانتیاوې او بورسونه دي. په هېواد کې د پخوا په پرتله د پوهنتونونو شمېر د مناسبې برنامې پرته زیات شوی او د کیفیت پرځای یې کمیت ته زیاته پاملرنه شوې، د اغېزمن تدریس چارې یې ډېرې نیمګړې او تر زیاته بریده د تیوریو پربنسټ ولا ړې دي. همدارنګه د تازه معلوماتو نشتوالی، د دودیزو او پخوانیو میتودونو او غیر معیاري وسیلو کارونه، په علمي څېړنیزو مرکزونو کې د څېړنې لږه اندازه، د اسانتیاوو نشتوالی او ورته ارزښت نه ورکول، د څېړنو لپاره د بودیجې ناکافي تخصیص او داسې نور هغه لاملونه دي، چې د مغزونو د فرار زمینه برابروي. په همدې ترتیب په څېړنیزو مرکزونو او رسنیو کې د علمي هستیو، تکړه استادانو، نوښتګرانو او اختراع کونکو د هڅونې لپاره د مادي او معنوي ترغیب د ځانګړو پلانونو او پروګرامونو نشت والی هم د مغزونو د فرار بل لامل کېدای شي .

## ح. د علمي ودې او انګیزې نشتوالی

مفکرین، پوهان او متخصصین د خپل کاري وخت زیاته برخه په خپلو څېړنو او تخصصي کارونو کې په مصرف رسوي. په عمومي توګه افغان متخصصینو خپلې لوړې زده کړې په مختلفو علمي حوزو کې د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې سرته رسولې دي. دوی هېواد ته له ننوتلو سره سم د علمي فعالیتونو لپاره د مناسب چاپېریال د نشتوالي او د علمي سیالیو د ترسره کولو لپاره د کافي سرچینو د نشتوالي له امله هغه چاپیریال ته ترجیح ورکوي، چې هلته یې زده کړې کړې وي او چېرې چې د علمي او تخصصي کارونو د ترسره کولو زمینه ورته برابره وي. په حقیقت کې د وی د علمي پرمختګ سره مینه لري او د علمي پرمختګ لپاره مناسب ځای پخوانی چاپیریال ګڼي .له همدې امله میر شکاک په دې باور دی، چې د متخصصینو او کار پوهانو د کډوالۍ یو لمل له علم او پوهې سره د هغوی مینه او تړاو دی. دوی د علمي څېړنیزو بنسټونو په لټه کې او په مختلفو علمي حوزو کې د لوړو علمي درجو د ترلاسه کولو په هیله، د کډوالۍ دردونه په ځان زغمي او د علم او پوهې سره شدید تړاو یې د لویدیځو هېوادونو کډوالۍ ته اړکوي .)۱۳۸۰ ، او په دې توګه د مغزونو د فرار لپاره زمینه برابروي (میر شکاک

له یوې خوا څخه د لوړو زده کړو د دوام په هیله، د کورنیو سرچینو کمښت او د څېړونکو د علمي تندې نه خړوبول او له بلې خوا څخه د مطالعې د اسانتیاوو، د نویو کتابونو او اړینو علمي سرچینو نشتوالی، د معتبرو پوهنتونونو په علمي ارزښت کې د توپیر نشتوالی او د څېړنې په برخه کې د لازمو امکاناتو نشتوالی او د ممتازو شخصیتونو او لوستو وګړو ناسم درک، هغه نیمګړتیاوې دي، چې په هېواد کې یې د مغزونو د فرار زمینه برابره کړې ده. همدارنګه د سم پلان نشتوالی، علمي او تخنیکي کار پوهانو ته ارزښت .)۱۱ م.،۱۳۸۳ ، نه ورکول، لویدیځ ته د هغوی د جلبولو بنسټ ګڼل کېدای شي (میر باقیری

## ط. لږې ښوونیزې اسانتیاوې

په افغانستان کې د مغزونو د فرار بل لامل لږې ښوونیزې اسانتیاوې دي. په عمومي توګه متخصصین، استادان او لوستي وګړي داسې سیمو ته حرکت کوي، چې زیاتې او لزمې ښوونیزې اسانتیاوې ولري، ترڅو دوی وکړای شي، چې په خپلو څېړنیزو

فعالیتونو لس پورې کړي. ښرګنده ده، چې ددې کار علت د څېړنې لپاره اړینې اسانتیاوې، د پرمختللو وسایلو په لرلو سره د ګڼ شمېر

چې دوی یې ، لبراتوارونو شتون، علمي فضاء، د کتابتونونو او بډایه معلوماتي سرچینو شتون او ترڅنګ یې د هغو اشخاصو شتون پرمټ له دغو وسیلو څخه ګټه اخیست لای، په څېړنو لاس پورې کولای او اکاډیمیک چاپیریال متحرک کولای شي .

په افغانستان کې د څېړنیزو پروژو د ترسره کولو لپاره په کافي اندازه پانګونه نه ده شوې. لومړی دا چې د ټولنې ستونزې تردې بریده زیاتې دي، چې په ډېره لږه اندازه په څې ړنو کار ترسره کېږي .دویم دا چې د څېړنیزو پروژو د ترسره کولو لپاره لازمه بودیجه او اسانتیاوې په واک کې نه لري، ترڅو وکولای شي، چې په دې برخه کې متخصص ځواک را ټول او منظم کړي او په فعالیتونو پیل و کړي. دریم دا چې د افغانستان وګړي څېړنیزو کارونو ته ډېر لږ ارزښت ورکوي، چې په واقعیت کې په افغانستان کې څېړنې په بشپړه توګه د غربت او بیوزلۍ سره مخ دي او له بل پلوه په هېواد کې د څېړنې فرهنګ هم ډېر کمزوری دی، چې دا پخپله ښوونېز نظام کمزوری کوي .پورتنیو ښرګندونو ته پام سره صالحي د یوې څېړنې په پایله کې دې نتیجې ته رسیدلی، چې په دریمې نړۍ هېوادونو کې د مغزونو د فرار ترټولو مهم عامل د ښوونیز نظام کمزورتیا ده، چې د ښوونیزو، پوهنتوني او څېړنیزو اسانتیاوو له پلوه .)۹۸ ..م۱۳۷۱ ، بیوزله دي (صالحی

## د مغزونو فرار او په لوړو زده کړو یې اغېزه

انساني پانګه او طبیعي سرچینې دواړه په اقتصادي وده کې پریکنده اغېزه لري. د څېړنو پایلې ښیې، چې په انساني سرچینو پانګونه د طبیعي سرچینو د پانګونې په پرتله په اقتصادي وده کې زیاته مرسته کوي. د بیلګې په توګه د منځني ختیځ هېوادونه د نفتو سترې زېرمې لري، خو د خپلې اقتصادي پ راختیا لپاره مسلکي او متخصص وګړو ته اړتیا لري. اوس مهال د هېوادونو په پرمختګ کې د انساني سرچینو بنسټیز او مهم رول ښرګند دی او په ډاډه زړه ویلی شو، چې د پرمختللو هېوادونو ترټولو مهمه ځانګړنه د وړ او متخصص انساني ځواک شتون دی. له همدې امله د متخصص او بډایه انساني ځواک حرکت پر مورنیو هېوادونو او جذب کونکو هېوادونو د پام وړ اغېزې لري. د مغزونو د فرار ترټولو مهمه اغېزه چې په مورني هېواد یې لري، د هغو لګښتونو ضایع کول دي، چې د متخصص او کار پوه ځواک په ښوونه او روزنه باندې مصرف شوي دي. هر کال مخ پرودې هېوادونه د پوهنې په برخه کې زیاتې پیسې لګوي، چې زیاتره یې د خپلې کمې بودیجې یوه مهمه برخه د مهارت لرونکو او متخصص وګړو د روزنې په برخه کې مصرفوي، خو له بده مرغه د دغو وګړو په کډوالۍ سره پرمختللو صنعتي هېوادونو او په ځانګړي ډول امریکا او کاناډا ته خپلې سترې سرچینې له لاسه ورکوي او دا پانګه پرمختللو هېوادونو ته رسوي، چې دا کار د پانګې د ضایع کېدو سربیره د تحصیلي نظام د ځنډ لامل هم ګرځي .

ځینې هېوادونه د سبسایډي په ورکولو سره د لوړو زده کړو په کچه د خپلو اتباعو د زده کړې لپاره زمینه برابروي، په دې سبسایډي کې ډېری وختونه د سود پرته پورونه تادیه کول، د پوهنتون فیسونه، په لیلیه کې د زده کړیالانو لپاره وړیا یا ارزانه استوګنځي او په بهر کې د تحصیلي لګښتونو لپاره مرسته شامله ده، څومره چې د زده کړې کچه لوړیږي، په همغه اندازه په زده ک ړو لګښت ونه زیاتیږي، د ډاکترانو او پروفیسورانو د روزنې لګښت د دوی د دورې د اوږدیدو له امله زیاتیږي. له همدې امله ددې لوستو وګړو په دایمي وتلو سره مورنیو هېوادونو ته زیات مالي زیانونه اوړي. څرنګه چې ښوونه او روزنه یوه عمومي ګټه ده او د ټولنې لپاره زیاتې ښیګڼې لري، د مغزونو د فرار په پایله کې د پام وړ مالي او علمي زیانونه سره مخامخ کېدای شي. په سویس کې د یوه متخصص د روزنې لوړ زره ډالر دی، له اقتصادي اړخه هغه ګټه چې دغه هېواد یې د بهرنیو متخصصینو د جذبولو څخه ترلاسه کوي، د ایران ۵٦۵لګښت کلونو او د پوهنتون د څلورو کلونو د ۱۲ د زعفرانو د صادراتو سره براب ره ده. د امریکا په متحده ایالتو کې د پوهنتون څخه دمخه د

زره اټکل شوی دی. د هغو زرګونو پوهنتوني فارغانو د زده کړو لګښت چې له وروسته ۱۷۴ زده کړې ټول لګښت د هر تن لپاره شاوخوا .)۲۴ م.،۱۴۰۰ ، پاتې هېوادونو څخه امریکا ته تللي دي، په میلیاردونو ډالر اټکل شوی دی (نجفی

د ګټې هغه اندازه چې د مغزونو د فرار له لارې د جذب کونکو هېوادونو په برخه کېږي، دا په ګوته کوي، چې د امریکا متحده م کلونو ۱۹۷۷ -۱۹۷۰ کلونو په اوږدو کې له دې لارې له سل میلیارد امریکایي ډالرو څخه زیاته ګټه ترلاسه کړې او د ۳۰ایالاتو د ترمنځ یېله پنځه میلیارد ډالرو څخه زیاته شتمنې د متخصص ځواک په روزنه مصرف کړې ده. پرهمدې بنسټ د نړۍ پرمختللي هېوادونه د کډوالو له پوهې او تخصص څخه په وړیا ډول ګټه ترلاسه کوي .دغه کډوال د ښوونې او روزنې، انجینرۍ، طبابت او نورو تخصصي خدماتو کې په کار بوخت دي. ددې متخصصینو کار د کوربه هېوادونو لپاره د ځانګړو او مهمو ټولنیزو ګټو لرونکی دی، چې په اصلي هېوادونو کې دې ګټو ته چندان پاملرنه نه ده شوې. په دې ځای کې باید دې ټکې ته هم پاملرنه وشي، چې د مخ پرودې هېوادونو د متخصصینو کډوالي په فعاله سني ډله کې صورت نیسي .دوی د پوهنتوني تخصصي دورې له اتمام وروسته په م کلونو وروسته امریکا ته تللي، له سني ګروپ ۱۹٦۰ سلنې زیات هغه ډاکتران چې له ۵۰ چټکۍ سره په کډوالۍ اقدام کوي. له سلنې په شاوخوا کې، فني او انجینري کار کونکي چې د کډوالو په ۴۰م کال کې د ۱۹۷۰ کلونو ټیټ عمر لري. په ۴۰له پلوه تر کلونو ښکته عمر درلود. د کډوال منونکو هېوادونو لپاره د ځوانې کډوالۍ مسئله ۳۰ توګه امریکا ته تللي، په سني ګروپ کې یې تر یو بل مثبت امتیاز دی او د اصلي هېوادونو لپاره منفي امتیاز ګڼل کېږي. له همدې امله له یوه هېواد څخه د تکړه او متخصص ځواک وتل پر لوړو زده کړو ناوړه اغېزه کوي او تحصیلي نظام کمزوری کوي .کله چې متخصصین مورنی هېواد پرېږدي، بې کفایته او غیر مسلکي وګړي واک ترلاسه کوي او د هېواد پراختیا شاته ځي، چې بلاخره د مغزونو د فرار لامل کېږي. د وخت په تېریدو سره متخصصین د خپلو کو رنیو د ویستلو زمینه هم برابروي او په دې ت وګه یوه اندازه پانګه هم له هېواده دباندې وځي. سویس د کمپیوتر، ټکنالوژۍ او درمل جوړولو شرکتونه د متخصص او کارپوه ځواک له کمښت سره مخ دي او حکومت دې پایلې ته رسیدلی، چې ددې نیمګړتیا د جبرانولو لپاره د مالي لګښت سربیره، شاوخوا څو زره ساعته تدریس ته اړتیا ده، چې د یوه پوهنتون او کالج د څو کلونو .) د افغانستان اقتصادي، ښوونیز، فرهنګي او ټولنیز نظام او همدارنګه ۲۴ م.،۱۴۰۰ ، دوامداره او بریالي کار سره برابر دی (نجفی علمي او پوهنتوني کورنۍ به د مغزونو د فرار له امله سخته زیانمنه شي او ددې بهیر دوام به د وګړو د ژوند په بیلابیلو اړخونو منفي اغېزې وکړي. د لوړو زده کړو د هڅونې کموالی، د ښوونیز نظام کمزوري، د کار د کیفیت ټیټوالی، د کلتوري ودې د بهیر ورو کېدل، په لوړو زده کړو بې باوري او د ارزښت را ټیټیدل به د مغزونو د فرار مهمې پایلې وي .

### د مغزونو فرار د مخنیوي لارې چارې

هغه لاملونه او خنډونه چې په درېیمې نړۍ او وروسته پاتې هېوادونو کې یې د مغزونو د فرار زمینه برابره کړې، که دغه لاملونه او خنډونه په پیاوړي هوډ سره یو څه له منځه یوړل شي، دا به پخپله د مغزونو د فرار په مخنیوي کې اغېزمن رول ولوبوي، خو ددې ترڅنګ د څې ړنو په پایله کې د مغزونو فرار د مخنیوي ځینې لارې چارې شتون لري، چې په پلې کېدو سره یې کولای شو، د مغزونو د فرار کچه راټیټه او په دې توګه د دغه ناوړه پدیدې مخه ونیسو. د نوموړې پدیدې سره د مخنیوي ځینې لارې چارې په لاندې ډول تربحث لاندې نیسو .

### . د اوږد مهاله کره پلانونو جوړول۱

د مغزونو د کډوالۍ د مخنیوي یوه لاره د انساني ځواک د کارونې لپاره د اوږد مهاله کره پلانونو جوړول دي، چې له بده مرغه له پخوا راهیسې ورته هیڅ پاملرنه نه ده شوې. البته تر هغې چې په مخ پرودې هېوادونو کې د کاري چاپیریال شرایط بدل نه شي او ځینې اړین لاملونه لکه د مزد او د کار برابر شرایط، د پرمختک اسانتیاوې برابرول، وړتیاوو او نوښتونو ته درناوی، په کار کې تحرک رامنځته کول او د تماس او د نظر تبادلې شونتیاوې رامنځته نه شي، د مغزونو کډوالي به دوام ومومي .

### . د پوهنتونونو غیر سیاسي کول ۲

د مغزونو فرار د مخنیوي یوه لار د پوهنتونونو او اجرائیوي بستونو غیر سیاسي کول دي. له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې په چې دې کار پوهنتونونه له خپل ، افغانستان کې د نظامونو په ادلون بدلون

سره د هېواد پوهنتونونه او علمي مرکزونه سياسي شوي اصلي مسير څخه چې د علم او فرهنګ توليد دی، منحرف ک ړي او پرې ناوړه اغېزه يې کړې. پکار ده، چې په کور دننه پوهنتونونو او څېړنيزو مرکزونو ته علمي ازادي ورکړل شي او له سياسي فشارونو، سياسي تمايلاتو او سياسي ډلو ټپلو څخه ليري وساتل شي او په علمي چارو کې يې بشپړ ملاتړ وشي، دا کار به د مغزونو د فرار په مخنيوي کې اغېزمن ثابت شي .

متخصصينو او علمي کادرونو لپاره بايد د استوګنې ځايونه جوړ شي او د دوی ټولې علمي، څېړنيزې، مادي او ،. د څېړونکو۳ ترڅو دوی وکولای شي، چې د ټولنې علمي او فرهنګي ستونزې په ، معنوي اړتياوې په دې کمپلکس کې په داسې ډول چمتو شي اسانۍ سره حل ک ړي. څرګنده ده، چې دا ډول پوهنيز ګروپ د صنعت سکټور، کرنيز سکټور، بشري علومو، بنسټيزو علومو او د داسې نورو د سمون لپاره ترسره کېدای شي. د پوهنتونونو وضعيت او د هغوی د څېړنيزي بوديجې په اړه بايد جدي بيا کتنه وشي او د څېړنې په لار کې ځانګړې اسانتياوې رامنځته شي. همدارنګه د ورتيا او مسلک پربنسټ د هېواد د متخصصينو، پوهانو او علمي کادرونو د ودې او پرمختګ لپاره د يوه مناسب بستر رامنځته کول، چې په بشپړه توګه فکري ازادي ولري .

.د علمي او اجرائيوي مرکزونو د جوړښت او طرزالعملونو اصلاح او همدارنګه په هېواد کې د اوسنيو قوانينو بيا کتنه، ترڅو په ۴ دې ډول د پوهانو، متخصصينو او کادرونو د اړتيا وړ علمي او څېړنيزو فعاليتونو د سرته رسولو لپاره لا ره هواره شي. د مغزونو فرار د مخنيوي او ددې ارزښتمنې پانګې د ساتلو او پاللو لپاره بايد لږ تر لږه د هوساينې اسانتياوې، د کار خونديتوب او ملاتړ پلانونه ترتيب او پياوړي شي .

. د متخصصينو او کار پوهانو د روزنې سربېره، بله حل لاره دا ده، چې د مغزونو فرار د مخنيوي لپاره دې يو صندوق جوړ شي، ۵ نوي فارغ شوي متخصصين، کارپوهان او زده کړيالان تر هغې چې دوی د نوې دندې او کار په موندلو بريالي شوي نه وي، له دې صندوق څخه ګټه پورته کړي او له دې فنډ څخه دې د کار پورونه، د بيکارۍ بيمه او داسې نور اجرا شي .

يو له اړينو اقداماتو څخه دي، ترڅو علمي شخصيتونه وکړای ،. د فارغينو او علمي شخصيتونو لپاره د کارموندنې مرکز جوړول۶ شي، چې د فراغت دمخه د دوی د خوښې او اړتيا سره سم راتلونکې دندې وټاکي او د فراغت سره سم په اړينو مرکزونو کې په کار وګمارل شي. د هغو فارغانو ځارنه چې بهر ته ځي او له هغوی سره عاطفي اړيکه د متخصصينو د جذب بله حل لاره کېدای شي .

. د ورتيا او نړيوالو معيارونو پربنسټ د حکومت جوړول، ترڅو دوامداره سياسي او اقتصادي ثبات رامنځته کړي

د متخصصينو او څېړونکو د هڅونې لپاره د قوانينو او پاليسيو تصويبول په پوهنتونونو کې د څېړنو زمينه برابرول او د استادانو غوښتنو او ستونزو هوارې ته پام کول

د طرحو او پلانونو د اجرا لپاره د متخصصينو او کار پوهانو له انرژۍ څخه ګټه اخيستل او ورته ونده ورکول د زده کړيالانو لپاره د کارموندنې د فرصتونو رامنځته کول په علمي او څېړنيزو چاپېريالونو کې د ثبات رامنځته کول

په هېواد کې د ثبات او اقتصادي امنيت ساتنه د طرحو او پلانونو د اجرا لپاره په مديريتي چارو کې د متخصصينو ګمارل د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت بايد د ملي او نړيوالو بنسټونو سره په دې برخه کې ګډ کار وکړي، ترڅو د خپلو پلانونو په وسيله و کړای شي، د مغزونو د فرار مخه ونيسي .

**مناقشه**

په نړۍ کې د مغزونو د فرار پديده جريان لري او يوازې د مخ پرودې هېوادونو پورې نه ده ځانګړې شوې، مګر هغه څه چې ډېر مهم دي، هغه ددې پديدې سره چلند ګڼل کېږي. د مغزونو فرار د نړۍ پرمختللو هېوادونو لپاره چندان بحران زېږونکې مسئله نه ده، که دا هېوادونه متخصصين، پوهان او علمي کادرونه دلاسه ورکوي، د نورو متخصصينو او پوهانو د جذب ورتيا لري او په دې هېوادونو

کې د مغزونو تبادله صورت نیسي. په داسې حال کې چې د دریمې نړۍ هېوادونه نه یوازې دا چې د پوهانو او متخصصینو د ساتلو وړتیا نه لري، بلکې د متخصصینو د جذب وړتیا هم نه لري او په دې هېوادونو کې د مغزونو تبادله صورت نه نیسي. له همدې امله د مغزونو فرار د افغانستان په څېر مخ پردې هېوادونو کې نه جبرانیدونکي زیانونه رامنځته کوي. د مغزونو د فرار په اړه زیاتې څېړنې ترسره شوي او د دغو څېړنو په پایله کې زیات لاملونه او علتونه په گوته شوي او تر زیاته بریده دغه څېړنې د یو بل سره همغږې لري، خو ددې څېړنې پایلې د پخوانیو څېړنو د پایلو سره یو څه توپیر په گوته کوي. په تېرو څېړنو کې تر زیاته بریده په اقتصادي لاملونو ټینگار شوی دی، خو ددې څېړنې پایلې د اقتصادي لاملونو ترڅنگ پر سیاسي او امنیتي لاملونو باندې ټینگار کوي او څرگندوي، چې په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي او د نظامونو ادلون بدلون د مغزونو پر فرار مهمه اغېزه لري. پردې سربیره په تېرو څېړنو کې د مغزونو په کډوالۍ کې د رسنیو او لویدیځو هېوادونو هڅونې ته چندان پاملرنه نه ده شوې، مگر ددې څېړنې پایلې د لویدیځو رسنیو او لویدیځو هېوادونو هڅونې د مغزونو د فرار مهم لامل گڼي او څرگندوي، چې لویدیځې رسنۍ د مغزونو د فرار پر چټکتیا ستره اغېزه لري .

**پایله**

د پورتني بحث په پای کې دې نتیجې ته رسېږو، چې د مغزونو فرار د افغانستان په څېر په مخ پرودې هېوادونو کې نوې او تازه موضوع نه ده، بلکې له پخوا زمانو راهیسې په دې هېواد کې شتون لري. اوس مهال په نړۍ او په ځانگړې ډول په افغانستان کې د مغزونو د فرار پدیده ډېره پراخه شوې او هر کال په زرگونو لوستي ځوانان له هېواده وځي او خپله انرژي د نورو هېوادونو په پراختیا

کې مصرفوي. له هېواده د مغزونو فرار په حقیقت کې د یوې سترې علمي، مغزي او قیمتي سرچینې دلاسه ورکول دي، له همدې امله په هېواد کې ترټولو مهمه ستونزه او مسئله د مغزونو فرار دی. د مغزونو فرار د افغانستان د تحصیلي نظام لپاره د خطر زنگ بلل کېږي، ځکه چې دا کار افغانستان د علمي کادرونو او متخصص افرادو د کمښت سره مخ کوي او پر هېواد د لویدیځوالو انحصار نور هم زیاتوي، چې بیا جبران یې ستونزمن دی. د مغزونو فرار څو اړخیزه پدیده ده، چې اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او فرهنگي اړخونه لري، چې هر یو یې ددې لړۍ پر چټکتیا زیاته اغېزه لرلې شي. زیاتره څېړونکي په دې باور دي، چې دا پدیده د نظام د داخلي گډوډۍ له امله رامنځته کېږي او ځینې ددې ستونزې رامنځته کېدل د صنعتي هېوادونو د پلان جوړونې سیستم یا د پرمختللو چې په افغانستان کې د مغزونو فرار گڼ ، هېوادونو او دریمې نړۍ هېوادونو ترمنځ د نابرابرۍ پایله گڼي. د څېړنې موندنې ښیي لاملونه لري، چې تر ټولو مهم یې سیاسي او اقتصادي لاملونه دي او ددې ترڅنگ د لویدیځو هېوادونو هڅونې او لویدیځې رسنۍ هم د دې پدیدې په پ راخیدو کې اغېزمن رول لري. پردې سربیره د څېړنې پایلې په گوته کوي، چې په افغانستان کې د ښوونیز نظام کمزورتیا، د څېړنیزو اسانتیاوو نشتوالی، ټیټ معاش او په تحصیلي نظام د وگړو بې باوري هغه لاملونه دي، چې د مغزونو فرار ته چټکتیا ورکوي. پرهمدې بنسټ ویلی شو، چې له هېواده د علمي کادرونو، متخصصینو او کار پوهانو تدریجي وتل د لوړو زده کړو پر سیستم ستر گذار دی، چې ستره علمي تشه به رامنځته کړې او په لنډ مهال کې به د هېواد تحصیلي جمعیت او بنسټونه د یوې سترې غمېزې سره مخ کړي، چې بیا ترمیم به یې کلونه وخت ونیسي .

**ماخذونه**


. ۱۲- ۱۱ .( بررسی وضعیت دانشجویان ایران در آمریکا. ایران: فصلنامه پژوهش، شماره ۱۳۵۷ ( .آراسته، حمیدرضا ۱

، (.ابعاد فرار مغزها در جهان و ایران :بازنگری آمارها. تهران: مجله اطلاعات سیاسی ۱۳۸۲( .حسینی نژاد، سید مرتضی ۲ .۱۲ - ۱۱اقتصادی شماره

(. فرار مغزها از جنوب به شمال علل و پیامد ها. پژوهشای نوین در مدیریت اقتصاد و حسابداری. ۱۳۹۵( .رافت، محمد علی ۳

(. . مهاجرت نخبه گان، علل و راهکارها. سازمان مدیریت و برنامه ریزی، تهران ۱۳۷۹( .سلجوقی، خسرو ۴